دافغانستان اسلامي جمهوریت

دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

## فوق العاده ګڼه

- اطلاعاتوته د لاسرسي قــانون
- د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځینو موادو تعدیل او ایــزاد

- قانون دسترسی به اطلاعــات
- تعدیل و ایزاد در برخی از مواد قانون تحصیلات عالی ملکی

Ketabton.com

دخپرېدو نېټه:د۱۳۹۷ هــ .ش کال د وري دمیاشتې (۱۱)
پرله پسې نمبر: (۱۲۹۷)

تاریخ نشــر:(۱۱) حمــل سال ۱۳۹۷ هــ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۹۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د امتیـــاز خاوند:** د عدلیـــې وزارت

**مسئول چلوونکی:** قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

**د دفتر تیلفون:** ۰۷۵۲۰۵۲۷۰۹

**مرستیـــال:** نورعلم ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸

**مهتمـــم:** محمد جان ۰۷۸۳۳۰٦۹۸۲

**وب سایت:** www.moj.gov.af

**قیمت این شماره:** (۲۴,٦۴) افغانی

**تیراژ چاپ:** (۳۰۰۰) جلد

**تعداد صفحات به شمول پشتی:** (۸۸) صفحه

**مطبعه:** بهیـــر

**آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، چهارراهی پشتونستان، کابل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اطلاعاتو ته دلاسرسي د قانون د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان

گڼه: (۲۵٦)

نېټه: ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹٦

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ۱٦ جزء او د نهه اويایمې مادې د حکمونو له مخې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹٦ نېټې (۱۹) گڼه مصوبې پر بنسټ د (٦) فصلونو او (۴۱) مادو په دننه کې تصويب شوی ده، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چاروکې د دولت وزير مکلف دي، اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون متن او دغه فرمان د ملي شوري د لومړنۍ غونډې

## فرمان تقنينی رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون دسترسی به اطلاعات

شماره: (۲۵٦)

تاريخ: ۱۳۹٦/۱۲/۱۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از احکام جزء ۱٦ مادۀ شصت و چهارم و مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، قانون دسترسی به اطلاعات را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (٦) فصل و (۴۱) ماده تصويب گرديده است، توشيح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، متن قانون دسترسی به اطلاعات و اين فرمان را در خلال مدت (۳۰) روز از

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جوړېدو څخــه د (۳۰) ورځــو مودې په ترڅ کې هغې شوري تــه وړاندې کړي.

دریېمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخــه نافــذ او د افغانســتان اســلامي جمهوریت د کابینې له مصــوبې او نوموړي قانون له متن سره یوځــای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

تاریـــخ انعقاد نخستین جلســـۀ شورای ملی به آن شــورا تقــدیم نمایند.

مادۀ سوم:

ایـــن فرمـــان از تـــاریخ توشـــیح نافـــذ و همـــراه بـــا مصـــوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانســـتان و متن قانون مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې**

**مصوبه**

ګڼه: (۱۹)

نېټه: ۱۲/ ۱۲/۱۳۹٦

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اویایمې مادې د حکم له مخې، اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون طرحه د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹٦نېټې په غونډه کې د (٦) فصلونو او (۴۱) مادو په دننه کې تصویب شوه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

**مصوبهٔ**

**کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح قانون دسترسی به اطلاعات**

شماره: (۱۹)

تاریخ: ۱۳۹٦/۱۲/۱۲

به تأسی از حکم مادهٔ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، طرح قانون دسترسی به اطلاعات به داخل (٦) فصل و (۴۱) ماده در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان تصویب گردید.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فهرست مندرجات

## قانون دسترسی به اطلاعات

### فصل اول

### احکام عمومی



| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۷ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۷ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۸ |
| مادۀ چهارم: | اختصار نام | ۱۰ |



### فصل دوم

### طرز دسترسی به اطلاعات



| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | حق دسترسی به اطلاعات | ۱۰ |
| مادۀ ششم: | تقاضای اطلاعات | ۱۱ |
| مادۀ هفتم: | حمایت اشخاص | ۱۲ |
| مادۀ هشتم: | میعاد ارایۀ ا طلاعات | ۱۲ |
| مادۀ نهم: | مصارف ارایۀ اطلاعات | ۱۳ |
| مادۀ دهم: | روش ارایۀ اطلاعات | ۱۴ |
| مادۀ یازدهم: | ارایۀ اطلاعات از طریق مصاحبه | ۱۵ |



### فصل سوم

### اطلاع رسانی



| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ دوازدهم: | مسؤولین اطلاع رسانی | ۱۶ |
| مادۀ سیزدهم: | وظایف مسؤول اطلاع رسانی | ۱۷ |
| مادۀ چهاردهم: | رد تقاضای اطلاعات | ۱۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادهٔ پانزدهم: نشر سالانهٔ اطلاعات........................................۲۰
مادهٔ شانزدهم: ممنوعیت ها.................................................۲۳
مادهٔ هفدهم: ارایهٔ گزارش...................................................۲۶

## فصل چهارم
## کمیسیون

مادهٔ هجدهم: ایجاد کمیسیون.......................................... ۲۷
مادهٔ نزدهم: شرایط عضویت کمیسیون........................................۲۷
مادهٔ بیستم: ایجاد کمیتهٔ گزینش.............................................۲۸
مادهٔ بیست و یکم: انتخاب رئیس، معاون و منشی........................... ۳۱
مادهٔ بیست و دوم: وظایف و صلاحیت های کمیسیون........................۳۱
مادهٔ بیست و سوم: تدویر جلسات کمیسیون...................................۳۳
مادهٔ بیست و چهارم: تطبیق تصمیم کمیسیون..................................۳۴
مادهٔ بیست و پنجم: دفترکمیسیون............................................۳۴
مادهٔ بیست و ششم: حالات از دست دادن عضویت...........................۳۴
مادهٔ بیست وهفتم: عزل عضو کمیسیون.......................................۳۶
مادهٔ بیست و هشتم: محدودیت ها...........................................۳۶
مادهٔ بیست و نهم: دارالانشای کمیسیون......................................۳۷
مادهٔ سی ام: بودجهٔ کمیسیون..................................................۳۸
مادهٔ سی و یکم: حقوق و امتیازات...........................................۳۹

## فصل پنجم
## شکایات

مادهٔ سی و دوم: حق شکایت...................................................۳۹
مادهٔ سی و سوم: شکایت متقاضی.............................................۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



مادهٔ سی و چهارم: رسیدگی به شکایت......................................۴۱
مادهٔ سی و پنجم: تخلفات و مؤیدات تأدیبی.................................۴۳
مادهٔ سی و ششم: مصئونیت اشخاص........................................۴۵

## فصل ششم
## احکام متفرقه

مادهٔ سی و هفتم: تحویل مبالغ...........................................۴۵
مادهٔ سی و هشتم: اقدامات مدیریتی......................................۴۶
مادهٔ سی ونهم: ارجحیت..................................................۴۶
مادهٔ چهلم: وضع لوایح و طرزالعمل ها و رهنمود ها.................۴۶
مادهٔ چهل و یکم: انفاذ...................................................۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځوسمې مادې د (۳) فقرې د حکم له مخې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

د دې قانون موخې عبارت دي له:

۱- له ادارو څخه اطلاعاتو ته د حقیقي او حکمي اشخاصو د لاسرسي د حق تأمینول.

۲- د اطلاع رسونې د فرهنګ د پیاوړتیا له شفافیت څخه د ډاډ ترلاسه کول، په حکومتولۍ کې د خلکو مشارکت او د ادارو له اجراآتو څخه حساب ورکونه او د اداري فساد پرخلاف مبارزه.

## قانون دسترسی به اطلاعات

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

این قانون به تأسی از حکم فقرهٔ (۳) مادهٔ پنجاهم قانون اساسی افغانستان، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تأمین حق دسترسی اشخاص حقیقی و حکمی به اطلاعات از ادارات.

۲- حصول اطمینان از شفافیت تقویت فرهنگ اطلاع رسانی، مشارکت مردم در حکومت داری و حساب دهی از اجراآت ادارات و مبارزه علیه فساد اداری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د افغانستان د اساسي قانون د درېيمې مادې په پام کې نيولو سره د بشر دحقوقو د نړيوالې اعلاميې د نولسمې مادې رعايتول.

۴- د اطلاعاتو د غوښتنې او وړاندې کولو د څرنګوالي تنظيمول.

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

په دې قانون کې دغه اصطلاحګانې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- اطلاعات:هر ډول ضبط شوي يا ثبت شوي، ليکل شوي، انځوريز، غږيز، نمونه يا موډل سند او معلومات دي.

۲- شخصي اطلاعات: په شخص پورې منحصر معلومات دي چې د نوم، تخلص، د اوسېدو د ځای او د کار د ځای پته، د شخصي او کورني ژوندانه وضعيت، روغتيايي سندونه، يادداښتونه، مراسلات، راکړې ورکړې، بانکي حساب، د تېرېدو رمز او نور هغه اطلاعات پکې شامل دي چې د هغه په

۳- رعايت مادهٔ نزدهم اعلاميهٔ جهانی حقوق بشر با نظرداشت مادهٔ سوم قانون اساسی افغانستان.

۴- تنظيم طرز تقاضا و ارايهٔ اطلاعات.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

اصطلاحات آتی در اين قانون مفاهيم ذيل را افاده می‌نمايد:

۱- اطلاعات: هر نوع سند و معلومات ضبط شده يا ثبت شده، نوشتاری، تصويری، صوتی، نمونه يا مودل می‌باشد.

۲- اطلاعات شخصی: معلومات منحصر به شخص است شامل نام، تخلص، آدرس محل سکونت و محل کار، وضعيت زندگی شخصی و خانوادگی، اسناد صحی، يادداشت ها، مراسلات، داد و ستد، حساب بانکی، رمز عبور و ساير اطلاعاتی که به وظايف رسمی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي دندو پورې اړه ونلري.

۳- غوښتونکی: هغه حقیقي یا حکمي شخص دی چـې لـه ادارو څخـه د اطلاعاتو غوښتنه کوي.

۴- خپرول: د اطلاعاتو خپـرول پـه داسې ډول دي چې د عامو خلکو لپاره د لاسرسي او ګټې اخیستنې وړ وي.

۵- د اطلاعاتو د غوښتنې فورم: هغـه مطبوع یا برېښـنایي پاڼـه ده چـې د غوښتونکي د مطالباتو د درج په منظور، د دې قانون له حکمونو سره سم د هغه په واک کې ورکول کېږي.

۶- ادارې: د جمهوري ریاست، ملي شورې، قضائیه قوې، وزارتونه، لـوی ریاستونه، خپلواک دولتي کمېسیونونه، سیمه ییزې ادارې، ولایتي، د ولسوالیو او د کلیو شورې ګانې، ښـاروالۍ، د ښاروالیو مجلسونه، تصدۍ، دولتي او مختلط شرکتونه او نورې هغې ادارې او بنسټونه پکې شامل دي چې د قانون پر بنا فعالیت کوي، دي. هر سازمان یـا بنسټ چې له ذکر شوو ادارو څخه د یوې په واسطه کنترول یا تمویلېږي یا د

ارتباط نداشته باشد.

۳- متقاضی: شخص حقیقی یا حکمی است که اطلاعات را از ادارات تقاضا می‌نماید.

۴- نشر: انتشار اطلاعات به شـکلی است که قابل دسترس و استفاده برای عامهٔ مردم باشد.

۵- فورم تقاضای اطلاعـات: ورق مطبوع یا الکترونیکی است کـه بـه منظور درج مطالبات متقاضی، مطـابق احکام این قانون بدسترس وی گذاشته می‌شود.

۶- ادارات: شامل ادارات ریاسـت جمهوری، شورای ملی، قوهٔ قضـائیه، وزارت‌ها، ریاسـت هـای عمـومی، کمیسیون‌های مستقل دولتی، ادارات محلی، شوراهای ولایتی، ولسـوالی و قریه، شاروالی ها، مجالس شاروالی ها، تصدی ها، شرکت هـای دولتـی و مختلط و سایر ادارات و نهادهایی که بر مبنای قانون فعالیت مـی‌نماینـد، می‌باشند. هر سازمان یا نهـادی کـه توسط یکی از ادارات مذکورکنترول یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ملکیت وي چې عامه چارې ترسره کوي، په دې تعریف کې شاملېږي.

**د نوم لنډيز**

**څلورمه ماده:**

په دې قانون کې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، د کمېسیون په نامه يادېږي.

## دوه یم فصل

## اطلاعاتو ته د لاسرسي ځرنګوالی

**اطلاعاتو ته د لاسرسي حق**

**پنځمه ماده:**

(۱) غوښتونکی، د دې قانون له حکمونو سره سم له ادارو څخه اطلاعاتو ته د لاسرسي حق لري.

(۲) ادارې مکلفې دي، په دې قانون کې له درج شوو حکمونو سره سم، اطلاعات د غوښتونکي او عامه خلکو په واک کې ورکړي.

تمویل می‌گردد یا ملکیت آنها باشد که امور عامه را انجام می‌دهد، شامل این تعریف می‌گردد.

**اختصار نام**

**مادهٔ چهارم:**

کمیسیون دسترسی به اطلاعات در این قانون به نام کمیسیون یاد می‌گردد.

## فصل دوم

## طرز دسترسی به اطلاعات

**حق دسترسی به اطلاعات**

**مادهٔ پنجم:**

(۱) متقاضی، حق دسترسی به اطلاعات را طبق احکام این قانون از ادارات دارا می باشد.

(۲) ادارات مکلف اند، طبق احکام مندرج این قانون، اطلاعات را به دسترس متقاضی و عامهٔ مردم قرار دهند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اطلاعاتو غوښتنه

**شپږمه ماده:**

(۱) غوښتونکی کولای شي د اطلاعاتو د ترلاسه کولو په منظور د اطلاعاتو لیکلی غوښتنلیک برابر یا د اطلاعاتو د غوښتنې فورم ډک او د ادارې اړوندې مرجع ته مراجعه وکړي.

(۲) د اطلاعاتو د غوښتنې فورم او د هغه محتوي د کمېسیون په واسطه برابرېږي او په مطبوع او برېښنایي شکل په وړیا ډول د عامه په لاسرسي کې ورکول کېږي.

(۳) غوښتونکی مکلف نه دی، د اطلاعاتو د غوښتنې لپاره دلایل وړاندې کړي یا د کوم ځانګړي سند نوم واخلي، یوازې د اطلاعاتو د برابرولو او وړاندې کولو لپاره له غوښتونکي څخه لازم معلومات غوښتل کېږي.

(۴) ادارې مکلفې دي، د اطلاعاتو غوښتنې ته په لیکلي یا برېښنایي ډول داسې ځواب وړاندې کړي چې غوښتونکي ته د لاسرسي وړ وي.

## تقاضای اطلاعات

**مادهٔ ششم:**

(۱) متقاضی می‌تواند به منظورکسب اطلاعات درخواست کتبی اطلاعات را ترتیب یا فورم تقاضای اطلاعات را خانه پری و به مرجع مربوط اداره مراجعه نماید.

(۲) فورم تقاضای اطلاعات و محتوای آن توسط کمیسیون ترتیب به شکل مطبوع و الکترونیکی طور رایگان به دسترس عامه قرار می‌گیرد.

(۳) متقاضی مکلف نیست، برای تقاضای اطلاعات دلایل ارائه نماید یا از سند خاصی نام ببرد، صرف معلومات لازم جهت تهیه و ارایهٔ اطلاعات از متقاضی مطالبه می‌گردد.

(۴) ادارات مکلف اند، به تقاضای اطلاعات طور کتبی یا الکترونیکی طوری پاسخ ارائه نمایندکه به متقاضی قابل دسترس باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اشخاصو ملاتړ**

**اوومه ماده:**

**اداري مکلفې دي، هغه اشخاص چې په فساد، ناوړه مديريت، د عدالت په نه تأمينولو، جنايي سرغړونو، د قانون د نقض، د بشر د حقوقو او په عامه امنيت او د ژوندانه چاپېريال ته د جدی زيان په اړوند اطلاعات افشا کوی تر ملاتړ لاندې ونيسي.**

**د اطلاعاتو د وړاندې کولو ميعاد**

**اتمه ماده:**

**(۱) اداري مکلفې دي، غوښتل شوي اطلاعات په ليکلي يا برېښنايي ډول په لنډ ممکن وخت کې د اطلاعاتو د غوښتنې له نېټې څخه زيات نه زيات د لسوکاري ورځوپه موده کې غوښتونکي ته وړاندې کړي. د مؤجه دلايلو دشتون په صورت کې، دغه موده تر لسو نورو کاري ورځو پورې تمديدېدای شي.د تمديد په صورت‌کې، اداره دې له غوښتونکي سره اړيکه ونيسي او هغه دې په ليکلي ډول له**

**حمايت اشخاص**

**مادهٔ هفتم:**

**ادارات مکلف اند، اشخاصی را که اطلاعات مربوط به فساد، سوء مديريت، عدم تأمين عدالت، تخلف جنايی، نقض قانون، حقوق بشر و آسيب جدی به امنيت عامه و محيط زيست را افشا می‌نمايند مورد حمايت قرار دهند.**

**ميعاد ارائهٔ اطلاعات**

**مادهٔ هشتم:**

**(۱) ادارات مکلف اند، اطلاعات تقاضا شده را طورکتبی يا الکترونيکی به متقاضی به اسرع وقت حد اکثر در مدت ده روز کاری از تاريخ تقاضای اطلاعات ارائه نمايند. در صورت موجوديت دلايل مؤجه، اين مدت الی ده روز کاری ديگر تمديد شده می‌توانند. در صورت تمديد، اداره با متقاضی تماس گرفته وی را از**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمدید او د هغه له دلایلو څخه خبر کړي.

(۲) اداري مکلفې دي، هغه غوښتل شوي اطلاعات چې خبري ارزښت ولري په لنډ ممکن وخت کې یا د اطلاعاتو د غوښتنې له نېټې څخه زیات نه زیات د یوې کاري ورځې په موده کې، رسنیو او ژورنالستانو ته وړاندې کړي.

(۳) اداري مکلفې دي، هغه غوښتل شوي اطلاعات چې د اشخاصو د مصئونیت او د شخص د ځان یا آزادۍ د ساتنې لپاره اړین وي، په لنډ ممکن وخت کې یا د اطلاعاتو د غوښتنې له نېټې څخه زیات نه زیات د یوې کاري ورځې په موده کې وړاندې کړي.

## د اطلاعاتود وړاندې کولو لګښتونه

نهمه ماده:

(۱) که چېرې د غوښتل شوو اطلاعاتو وړاندې کول د لګښتونو غوښتنه وکړي، غوښتونکی مکلف دی، د هغو لګښتونه ورکړي، له دې پرته غوښتنه

تمدید و دلایل آن طورکتبی آگاه سازد.

(۲) ادارات مکلف اند، اطلاعات تقاضا شده را که دارای ارزش خبری باشد به رسانه ها و ژورنالستان به اسرع وقت یا حد اکثر در مدت یک روز کاری از تاریخ تقاضای اطلاعات، ارائه نمایند.

(۳) ادارات مکلف اند، اطلاعات تقاضا شده را که برای مصئونیت اشخاص و حفظ جان یا آزادی شخص ضرور باشد، به اسرع وقت یا حداکثر در مدت یک روزکاری از تاریخ تقاضای اطلاعات، ارائه نمایند.

## مصارف ارایهٔ اطلاعات

مادهٔ نهم:

(۱) هرگاه ارایهٔ اطلاعات تقاضا شده ایجاب مصارف را نماید، متقاضی مکلف است، مصارف آن را تأدیه نماید. در غیر آن تقاضا رد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ردېږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې پــه درج شوو لګښتونو کې بيه، د بيا توليد نمونه او غوښتونکي تــه د اطلاعــاتو استول شامل دي. بيا توليد په ليکلــي، غږيز يا انځوريز ډول د اصل سند نقل، له اصل سند څخه کاپي شــاملوي. د اطلاعاتو لومړۍ شل پاڼې له دغه حکم څخه مستثني دي.

(۳) د غوښـــتل شـــوو اطلاعـــاتو د لګښـــتونو انـــدازه او د هغـــو د ورکړې ډول په هغې جلا کړنلاره کې چې د کمېسيون له لــوري د مــاليې وزارت پــه موافقــه وضــع کېــږي، تنظيمېږي.

## د اطلاعاتو د وړاندې کولو تګلاره

لسمه ماده:

(۱) اداري مکلفې دي، اطلاعات لــه غوښتنې سره سم غوښتونکي ته وړاندې کړي، په دې شرط چې اصل سند تــه زيان ونه رسېږي.

(۲) غوښتونکی کولای شي له لانــدې

می گردد.

(۲) مصارف مندرج فقرهٔ (۱) این ماده شامل قيمت، نمونهٔ توليــد دوبـــاره و ارسال اطلاعات به متقاضی می‌باشـــد. توليد دوباره شامل نقل اصـــل ســـند، کاپی از اصـــل ســـند طـــورکتبـــی، صوتی يا تصويری می‌باشـــد. بيســـت صفحهٔ اول اطلاعات ازايـــن حکـــم مستثنی است.

(۳) اندازهٔ مصارف اطلاعات تقاضـــا شـــده و نحـــوهٔ پرداخـــت آن در طرزالعمـــل جداگانـــهٔ کـــه از طرف کميسيون بـــه موافقـــهٔ وزارت ماليـــه وضـــع مـــی‌گـــردد، تنظـــيم می‌شود.

## روش ارايهٔ اطلاعات

مادهٔ دهم:

(۱) ادارات مکلف اند، اطلاعات را طبق تقاضا به متقاضی ارائـــه نماينـــد، مشروط براينکه به اصل سند صـــدمه وارد نگردد.

(۲) متقاضی می‌توانـــد بـــه يکـــی از

(c) ketabton.com: The Digital Library



تګلارو څخه په یوه د اطلاعاتو غوښتنه وکړي:

۱- په پاڼه کې یا په برېښنـــايي ډول د اصل سند نقل.

۲- په اړوندو ادارو کې د ســندونو، موډلونو او نمونو د کتنې د فرصـت را منځته کول.

۳- په لیکلي، غږیز یا انځوریز ډول له اصل سند څخه کاپي.

۴- په غږیز یا انځوریز ډول د اطلاعاتو وړاندې کول.

۵- د نمونې وړاندې کول.

**د مرکــې لــه لارې د اطلاعـــاتو وړاندې کول**

**یوولسمه ماده:**

له مقاماتو او د ادارو له کــارکوونکو سره د ژورنالستانو د مرکو له لارې د اطلاعاتو وړاندې کول د دې قانون په شپږمه، اتمه او نهمه مـــادوکې د درج شوو حکمونو تابع نه دي.

روش های ذیل اطلاعـــات را تقاضـــا نماید:

۱- نقل اصل سند در ورق یا به شکل الکترونیکی.

۲- ایجاد فرصت مشـــاهدهٔ اســـناد، مودل هـــا و نمونـــه هـــا در ادارات مربوط.

۳-کاپی از اصل سند طورکتبی، صوتی یا تصویری.

۴- ارایهٔ اطلاعات به شکل صوتی یـــا تصویری.

۵- ارایهٔ نمونه.

**ارایـــهٔ اطلاعـــات از طریـــق مصاحبه**

**مادهٔ یازدهم:**

ارایـــهٔ اطلاعـــات از طریـــق مصـــاحبهٔ ژورنالســـتان بـــا مقامات و کارکنـــان ادارات، تـــابع احکام مندرج مواد ششم، هشتم و نهم این قانون نمی‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریيم فصل

## اطلاع رسونه

**د اطلاع رسونې مسؤولين**

**دوولسمه ماده:**

(۱) ادارې مکلفې دي، اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق د تأمينولو په مقصد د دندو له لايحې سره سم د اطلاع رسونې مسؤولې مراجع او اړوند کارکوونکي، مشخص او توظيف کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې د اطلاع رسونې مسؤولې مراجع، مکلفې دي، د اطلاع رسونې د مسؤول او نورو اړوندو کارکوونکو هويت له جزئياتو سره (د اړيکې شمېره، برېښنا ليک، پته او داسې نور) د پوهاوي لپاره د عامه خلکو په لاسرسي کې ورکړي.

(۳) د اطلاع رسونې مسؤول کولای شي د اړتيا په صورت کې، د اطلاعاتو د برابرولو لپاره د اړوندې ادارې له کارکوونکو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړي او د ادارې کارکوونکي په همکارۍ مکلف دي.

## فصل سوم

## اطلاع رسانی

**مسؤولين اطلاع رسانی**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) ادارات مکلف اند، به منظور تأمين حق دسترسی به اطلاعات، مراجع مسؤول اطلاع رسانی و کارکنان مربوط را طبق لايحۀ وظايف، مشخص و توظيف نمايند.

(۲) مراجع مسؤول اطلاع رسانی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، مکلف اند، هويت مسؤول اطلاع رسانی و ساير کارکنان مربوط را با جزئيات (شمارۀ تماس، ايميل، آدرس و امثال آن) جهت آگاهی به دسترس عامۀ مردم قرار دهند.

(۳) مسؤول اطلاع رسانی می‌تواند در صورت ضرورت، جهت تهيۀ اطلاعات ازکارکنان ادارۀ مربوط مطالبۀ همکاری نموده و کارکنان اداره مکلف به همکاری می‌باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اطلاع رسونې د مسؤول دندې

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د اطلاع رسونې مسؤول د لاندې دندو لرونکی دی:

۱- د غوښتنې په صورت کې غوښتونکي ته اطلاعاتو د غوښتنې د فورم توضیح کول، په لیکلي یا برېښنایي ډول د غوښتونکي خبرول.

۲- په دې قانون کې له درج شوو حکمونو او اړوندو کړنلارو سره سم د غوښتونکي لاسرسي ته د اطلاعاتو د غوښتنې د فورم ورکول او له هغه سره لازمه همکاري.

۳- په لیکلي ډول د اطلاعاتو د غوښتنې د ترلاسه کولو په وخت کې غوښتونکي ته د رسید سپارل.

۴- د اطلاعاتو د شتون یا نه شتون په صورت کې، په لیکلي ډول په پنځو کاري ورځو موده کې د غوښتونکي خبرول.

۵- د دې قانون له درج شوو حکمونو سره د اطلاعاتو د وړاندې کولو له

## وظایف مسؤول اطلاع رسانی

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) مسؤول اطلاع رسانی دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- توضیح فورم تقاضای اطلاعات به متقاضی در صورت تقاضا آگاه نمودن متقاضی طورکتبی یا الکترونیکی.

۲- بدسترس قرار دادن فورم تقاضای اطلاعات به متقاضی و همکاری لازم با وی مطابق احکام مندرج این قانون و طرز العمل های مربوط.

۳- تسلیم رسید به متقاضی در زمان دریافت تقاضای اطلاعات طورکتبی.

۴- در صورت موجودیت یا عدم موجودیت اطلاعات، مطلع نمودن متقاضی در مدت پنج روزکاری طورکتبی.

۵- حصول اطمینان از مطابقت ارایۀ اطلاعات با احکام مندرج این

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمون څخه د ډاډ ترلاسه کول.

۶- د ادارې په انترنيتي پاڼو او نورو اړوندو رسنيو کې د اطلاعاتو خپرول.

۷- د هغو نورو دندو ترسره کول چې د اړوندې ادارې له لوري، د اطلاع رسونې د چارو د ښه والي لپاره ورته سپارل کېږي.

(۲) که چېرې غوښتونکی د معلوليت يا بې سوادۍ په سبب ونکړی شي په ليکلي ډول د اطلاعاتو غوښتنه وکړي، د اطلاع رسونې مسؤول مکلف دی د غوښتونکي شفاهي غوښتنه وليکي، د هغه د لاسليک يا د ګوتې د نښان له اخيستلو مخکې، د غوښتونکي غوښتنه د هغې د تأييد لپاره په هغې لارې چې د ده لپاره د درک وړ وي، تفهيم کړي.

(۳) که چېرې اداره د غوښتل شوو اطلاعاتو د پېژندنې لپاره زياتو توضيحاتو ته اړتيا ولري، د اطلاع رسونې مسؤول موضوع له غوښتونکي سره تعقيبوي، د هغه د اطلاعاتو غوښتنه لازياته واضح کوي.

(۴) که چېرې غوښتل شوي اطلاعات

قانون.

۶- نشر اطلاعات در صفحات انترنيتی اداره و ساير رسانه های مربوط.

۷- انجام ساير وظايفی که از طرف ادارۀ مربوط، جهت بهبود امور اطلاع رسانی به وی سپرده می‌شود.

(۲) هرگاه متقاضی به سبب معلوليت يا بی سوادی نتواند طورکتبی تقاضای اطلاعات نمايد، مسؤول اطلاع رسانی مکلف است درخواست شفاهی متقاضی را به تحرير در آورده قبل از گرفتن امضاء يا نشان انگشت وی، درخواست متقاضی را جهت تائيد آن به طريقی که برای او قابل درک باشد، تفهيم نمايد.

(۳) هرگاه اداره جهت شناسايی اطلاعات تقاضا شده به توضيحات بيشتر نياز داشته باشد، مسؤول اطلاع رسانی موضوع را با متقاضی پيگيری نموده تقاضای اطلاعات وی را واضح تر می‌سازد.

(۴) هرگاه اطلاعات تقاضا شده در

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اداره کې شتون ونلري او څرګندوي چې بله اداره غوښتل شوي اطلاعات لري، په دې صورت کې اداره مکلفه ده، د اطلاعاتو ليکلې غوښتنه په پنځو کاري ورځو موده کې هماغه ادارې ته واستوي او غوښتونکی په ليکلي ډول له موضوع څخه خبر کړي.

## د اطلاعاتو د غوښتنې ردول

**څوارلسمه ماده:**

(۱) که چېرې د اطلاعاتو غوښتنه په کلي يا قسمي ډول رد شي، د اطلاع رسونې مسؤول مکلف دی، غوښتونکی په هغو مشخصو او قانوني دلايلو چې د هغو پر بنا د هغه غوښتنه رد شوې ده، په ليکلي ډول خبر کړي.

(۲) د اطلاع رسونې مسؤول مکلف دی د اطلاعاتو د غوښتنې د رد د تصميم پر وړاندې د غوښتونکي د شکايت د حق په هکله، غوښتونکي ته لازم پوهاوی وړاندې کړي.

اداره موجود نبوده و واضح باشد که ادارۀ ديگری دارای اطلاعات تقاضا شده است در اين صورت اداره مکلف است، تقاضای کتبی اطلاعات را در مدت پنج روز کاری به همان اداره ارسال و متقاضی را از موضوع طورکتبی مطلع نمايد.

## رد تقاضای اطلاعات

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) هرگاه تقاضای اطلاعات طور کلی يا قسمی رد شود، مسؤول اطلاع رسانی مکلف است، متقاضی را از دلايل مشخص و قانونی که بنابرآن تقاضای وی رد گرديده، طورکتبی مطلع سازد.

(۲) مسؤول اطلاع رسانی مکلف است در مورد حق شکايت متقاضی بر عليه تصميم رد تقاضای اطلاعات، به متقاضی آگاهی لازم ارائه نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اطلاعاتو کلني خپرول

**پنځلسمه ماده:**

(۱) ادارې مکلفې دي، لاندې اطلاعات لږترلږه په کال کې يوځل خپاره کړي:

۱- د ادارې تشکيل، دندې او واکونه او د اړوندو اجراآتو رپوټ.

۲- د فرعي برخو، ولايتي او ساحوي دفترونو او د اړوندو انکشافي پروژو او برنامو په هکله معلومات.

۳- د ادارې د اړيکې شمېره، برېښنا ليک، پته او کاري ساعتونه.

۴- د بودجې د سندونو او د مالي او پلټنې د رپوټونو په ګډون د ادارې مالي وضعيت.

۵- د هغو فورمو په ګډون چې خدمتونو ته د لاسرسي لپاره بشپړېږي دهغو مستقيمو خدمتونو جزئيات چې خلکو ته وړاندې کېږي او د خدمتونو د وړاندې کولو وخت.

۶- د ادارې په استماعيه او مشورتي غونډو کې د ښاريانو د مشارکت لپاره

## نشرسالانهٔ اطلاعات

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) ادارات مکلف اند، اطلاعات ذيل را حداقل سال يک مرتبه نشر نمايند:

۱- تشکيل، وظايف و صلاحيت های اداره وگزارش اجراآت مربوط.

۲- معلومات در مورد بخش های فرعی، دفاتر ولايتی و ساحوی، برنامه ها و پروژه های انکشافی مربوط.

۳- شمارهٔ تماس، ايميل، آدرس و ساعات کاری اداره.

۴- وضعيت مالی اداره به شمول اسناد بودجه و گزارش های مالی و تفتيش.

۵- جزئيات خدمات مستقيم که به مردم ارائه می‌گردد به شمول فورم هايی که جهت دسترسی خدمات تکميل گردد و زمان ارايهٔ خدمات.

۶- معلومات در مورد ميکانيزم ها و طرزالعمل ها جهت مشارکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میکانیزمونو او کړنلارو او اړوندو رپوټونو په هکله معلومات.

۷- د اطلاعاتو غوښتنې او د خلکو مستقیم شکایت ته د رسیدګۍ څرنګوالی.

۸- اړونده تقنیني سندونه.

۹- اړوندې لایحې، کړنلارې او لارښودونه.

۱۰- د قوانینو، مقررو، کړنلارو او نورو تقنیني سندونو د طرحې په اړوند د مشورو په ګډون د ښاریانو د مشارکتي غونډو پایلې.

۱۱- اړوندکورني یا بین المللي قراردادونه، پروتوکولونه او هوکړه لیکونه.

۱۲- د داوطلبۍ اعلانونه، د آفرونو د ارزونې سندونه، تدارکاتي قراردادونه، د قراردادونو د اجراکولو د پرمختګ رپوټونه، د قراردادونو بشپړیز رپوټ، د قراردادونو له پلي کولو څخه د پلټنې رپوټ او په تدارکاتي قراردادونو پورې اړوند نور موارد.

۱۳- پالیسي، ستراتیژي او اړوند کاري

شهروندان در مجالس استماعیه و مشورتی اداره و گزارش های مربوط.

۷- طرز رسیدگی به تقاضای اطلاعات و شکایت مستقیم مردم.

۸- اسناد تقنینی مربوط.

۹- لوایح، طرزالعمل‌ها و رهنمود های مربوط.

۱۰- نتایج جلسات مشارکتی شهروندان به شمول مشوره در مورد طرح قوانین، مقرره ها، طرزالعمل ها و سایر اسناد تقنینی.

۱۱- قراردادها، پروتوکول ها و تفاهمنامه های داخلی یا بین المللی مربوط.

۱۲- اعلانات داوطلبی، اسناد ارزیابی آفرها، قرارداد های تدارکاتی، گزارش های پیشرفت اجرای قراردادها، گزارش تکمیلی قرار دادها، گزارش تفتیش از تطبیق قرارداد ها و سایر موارد مربوط قرارداد های تدارکاتی.

۱۳- پالیسی، ستراتیژی و پلان های

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانونه.

۱۴- د هغو اطلاعاتو د طبقه بندۍ او ډول لست چې په واک کې يې لري.

۱۵-د نوم، د اړيکې د شمېرې، برېښنا ليک او د دفتر د پتې په ګډون د اطلاع رسونې د مسؤول په هکله معلومات.

۱۶- د دغه قانون د حکمونو له تطبيق څخه کلنی رپوټ.

۱۷- د کمېسيون په تشخيص نور اطلاعات.

(۲) ادارې دې د قراردادونو په ګډون مهم اطلاعات او سندونه له بشپړېدو وروسته په ډېر لنډ ممکن وخت کې په داسې ډول د خلکو په واک کې ورکړي چې د عامه خلکو لپاره د درک وړ او په آسانۍ سره د لاسرسي وړ وي.

(۳) ادارې مکلفې دي، په ښه توګه د سندونو او اطلاعاتو د ساتنې او د غوښتونکو په لاسرسي کې د هغو د ورکولو په مقصد، د اطلاعاتو د مديريت سيستم او د اطلاعاتو بانک (ډيټابيس) رامنځته کړي.

(۴) ادارې هغه اطلاعات چې په

کاری مربوط.

۱۴ - لست طبقه بندی و انواع اطلاعاتی که در اختیار دارد.

۱۵- معلومات در مورد مسؤول اطلاع رسانی به شمول نام، شمارۀ تماس، ایمیل و آدرس دفتر.

۱۶- گزارش سالانه از تطبیق احکام این قانون.

۱۷- سایر اطلاعات به تشخیص کمیسیون.

(۲) ادارات اطلاعات و اسناد مهم را به شمول قرارداد ها به اسرع وقت بعد از نهایی شدن به گونۀ در دسترس مردم قرار دهند که برای عامۀ مردم قابل درک و به آسانی قابل دسترس باشد.

(۳) ادارات مکلف اند، به منظور حفظ و نگهداشت بهتر اسناد و اطلاعات و بدسترس قرار دادن آن به متقاضیان، سیستم مدیریت اطلاعات و بانک اطلاعات (دیتابیس) را ایجاد نمایند.

(۴) ادارات اطلاعاتی را که به شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



بربښنايي ډول يې خپروي، د کمپيوټر په واسطه دې د تحليل او عمليـاتو وړ وي.

(۵) اشخاص کولای شي هغه اطلاعات چې لومړی د عامه ادارې په واسـطه توليديږي، له هغو څخه ګټه واخلي.

**ممنوعيتونه**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) په لاندې حالاتو کې د اطلاعـاتو وړاندې کول منع دي:

۱- په هغه صورت کې چې خپلواکي، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او عامه امنيت له خطر سره مخامخ کړي.

۲- په هغه صورت کې چې له نـورو هېوادونو سره د افغانستان د سياسـي، اقتصادي او فرهنګي اړيکو د پرې کېدو سبب شي.

۳- په هغه صورت کې چې د شخص سر او مال له خطر سره مخامخ شي.

۴- په هغه صورت کې چې د جـرم د کشف خنډ يا د جـرم د ارتکـاب د مخنيوي خنډ شي.

الکترونیکی به نشر می‌رسانند، قابـل تحليل و عمليات توسـط کمپيـوتر باشد.

(۵) اشخاص می‌توانند اطلاعاتی کـه نخست توسـط ادارۀ عامـه توليـد می‌گردد، از آن استفاده نمايند.

**ممنوعيت ها**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) ارايۀ اطلاعات در حالات ذيـل ممنوع می باشد:

۱- درصورتی‌که استقلال، حاکميـت ملی، تماميت ارضی و امنيت عامـه را به خطر مواجه گرداند.

۲- درصـورتی‌کـه سـبب قطـع روابط سياسی، اقتصادی و فرهنگـی افغانسـتان بـا سايرکشـورها گردد.

۳- درصورتی‌که جان و مال شـخص به خطر مواجه گردد.

۴- درصورتی‌که مانع کشف جرم يـا مانع جلـوگيری از ارتکـاب جـرم گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- په هغه صورت کې چې د تورن د کشف، څېړنې او تعقیب بهیر یا په دې برخه کې د احتیاطي تـدبیرونو نیـول مختل کړي.

۶- په هغه صورت کې چې د عادلانه محاکمې یا د حکم د تنفیذ بهیر اخلال کړي.

۷- په هغه صورت کې چې د شخص خصوصي حریم نقض کړي.

۸- په هغه صورت کې چې اطلاعات په سوداګریزو موضوعګانو، شخصـي ملکیتونو او بانکي حساب پـورې اړه ولري، خو دا چې په قوانینو کې بـل ډول تشخیص شوی وي.

(۲) لاندې حالات د دې مادې د (۱) فقرې په ۷ او ۸ اجزاوو کې لـه درج شوو حکمونو څخه مستثنی دي:

۱- په هغه صورت کې چې واکمنـه محکمـه د شـخص د اطلاعـاتو د افشاکولو په هکله تجویز ونیسي.

۲- په هغه صورت کې چې د مؤلف، مصنف، هنرمند او څېړونکي د حقوقو د ملاتړ قانون (کاپي رایټ) او له سیالۍ

۵- درصورتی‌که روند کشف، تحقیق و تعقیب مـتهم یـا اتخـاذ تـدابیر احتیاطی در ایـن زمینـه را مختـل سازد.

۶- درصورتی‌کـه رونـد محاکمـهٔ عادلانه یا تنفیذ حکـم را اخـلال نماید.

۷- درصورتی‌که حـریم خصوصـی شخص را نقض نماید.

۸- درصورتی‌که اطلاعات مربوط بـه موضوعات تجارتی، ملکیـت هـای شخصی و حساب بانکی بوده، مگـر اینکه در قوانین طور دیگری تشخیص شده باشد.

(۲) حالات ذیل از احکـام منـدرج اجزای ۷ و ۸ فقرهٔ (۱) ایـن مـاده مستثنی می‌باشد:

۱- در صورتی‌که محکمهٔ ذیصلاح در مورد افشای اطلاعات شخصی تجویز اتخاذ نماید.

۲- درصورتی‌که قانون حمایت حقوق مؤلف، مصـنف، هنرمنـد و محقـق (کاپی رایت) و قانون حمایت از رقابت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه د ملاتړ قانون او نــور تقنينــي سندونه نقض نه کړي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اطلاعات په هغه صورت کې چې عامه ګټې ايجاب کړي، غوښتونکي ته وړاندې کېږي.

(۴) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې عامه ګټې د اړوندې ادارې پــه واسطه تشخيصېږي.

(۵) که چېرې غوښتل شوي اطلاعات په هغو اطلاعاتو پورې اړه ولري چې د ثالث شخص له لوري په ســري ډول برابر شوي وي، اداره دې د نومــوړو اطلاعاتود افشاکولو په هکله د ثالــث شخص د رضايت يا نــه رضــايت د معلومولو لپاره له هغه ســره اړيکــې ونيسي. په هغو مواردو کې چې هغــه اعتراض ولري بايد وساتل شي، خو هغه تصميم چې آيا غوښتل شوي اطلاعات د ممنوعيتونو په محدوده کې دي يا ندي، د ادارې په واسطه نيول کېږي.

(٦) هغه اطلاعات چې له شلو کلونــو ځخه زياته مخينه ولري، په هغو باندې

و ســاير اســناد تقنينـــی را نقــض ننمايد.

(۳) اطلاعات مندرج فقرهٔ (۱) ايــن ماده در صورتی کــه منــافع عامــه ايجاب نمايــد بــه متقاضـــی ارائــه می‌گردد.

(۴) منافع عامهٔ مندرج فقرهٔ (۱) ايــن ماده توسط ادارهٔ مربــوط تشــخيص می‌گردد.

(۵) هرگاه اطلاعات تقاضا شده مربوط به اطلاعاتی باشد که از جانب شخص ثالث طور سری فراهم شده باشد، اداره با شخص ثالث جهت معلوم نمــودن رضايت يا عدم رضايت وی در مــورد افشای اطلاعات متذکره تماس برقرار نمايد. در مواردی که وی اعتــراض داشته باشد بايد حفــظ شــود، امــا تصميمی که آيــا اطلاعــات تقاضــا شده در محدودهٔ ممنوعيت ها قــرار دارد يــا نــه، توســط اداره اتخــاذ می‌گردد.

(٦) اطلاعاتی که بيشتر از بيست سال قدامت داشته باشــد، هــيچ گونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ ډول ممنوعیت نشي وضع کېدای. خو دا چې دغه موده په استثنايي حالاتو کې د هغې اداري د لـومړۍ درجـې مسؤول په وړاندیز چې اړوند اطلاعات يې په واک کې دي د کمېسـیون پـه تأیید، زیات نه زیات تر نـورو لسـو کلونو پورې تمدیدېدای شي.

(۷) که چېرې د غوښتل شوو اطلاعاتو یوه برخه د ممنوعیتونو په محدوده کې وي، له هماغې برخـې پرتـه، پـاتې اطلاعات دې وړاندې شي.

(۸) اداري مکلفې دي، اړوند سندونه د محرمیت په پام کې نیولو سره له جلا کړنلارې سره سم، تصنیف او طبقه بندي کړي.

## د رپوټ وړاندې کول

**اووه لسمه ماده:**

(۱) د اطلاع رسونې مسؤولې مراجع مکلفې دي، د دې قانون د حکمونو د تطبیق په هکله د خپلو اجراآتو کلنـی رپوټ کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کـې د

ممنـوعیتی بـالای آن وضـع شـده نمی‌تواند. مگر اینکه مدت متذکره در حالات استثنایی به پیشنهاد مسـؤول درجه اول اداره که اطلاعات مربوطه در اختیار آن قـرار دارد، بـا تائیـد کمیسیون، حد اکثر الی ده سال دیگر تمدید شده می‌تواند.

(۷) هرگاه یک بخش اطلاعات تقاضا شده در محدودهٔ ممنوعیت ها باشـد، به استثنای همان بخـش، اطلاعـات متباقی ارائه گردد.

(۸) ادارات مکلف اند، اسناد مربوط را بـا نظرداشـت محرمیـت طبـق طرزالعمل جداگانه تصـنیف و طبقـه بندی نمایند.

## ارایهٔ گزارش

**مادهٔ هفدهم:**

(۱) مراجع مسؤول اطـلاع رسـانی مکلف اند،گزارش اجـراآت سـالانهٔ خویش را در مورد تطبیق احکام ایـن قانون به کمیسیون ارائه نمایند.

(۲) طرز ارایهٔ گزارش مندرج فقـرهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درج شوي رپوټ د وړانـدې کولـو څرنګوالی په هغې جلا کړنلاره کـې تنظيمېږي چې د کمېسيون له لـوري وضع کېږي.

## څلورم فصل

## کمېسيون

**د کمېسيون رامنځته کول**

**اتلسمه ماده:**

اطلاعاتو ته د لاسرسي د حق د تأمينولو په منظور، د دې قانون له حکمونو سره سم د ښځو او نارينه وو په ګـډون د پنځو تنو غړو په ترکيـب کمېسـيون رامنځته کېږي.

**د کمېسيون د غړيتوب شرطونه**

**نولسمه ماده:**

هغه شخص د کمېسيون د غړي په توګه ټاکل کېږي چې لاندې شرطونه ولري:

۱- د افغانسـتان تابعيـت ولري.

۲- د دېرش کلنۍ عمر يې بشپړ کړی وي.

۳- لږترلږه د لېسانس د تحصيلي سند

(۱) ايـن مـاده در طرزالعمـل جداگانهٔ کـه از طـرف کميسـيون وضـع مـی‌شـود، تنظـيم می‌گردد.

## فصل چهارم

## کميسيون

**ايجاد کميسيون**

**مادهٔ هجدهم:**

به منظـور تـأمين حـق دسترسـی به اطلاعات، کميسـيون مرکـب از پـنج عضـو اعـم از زن و مـرد مطابق احکـام ايـن قـانون ايجـاد می‌گردد.

**شرايط عضويت کميسيون**

**مادهٔ نزدهم:**

شخصی به حيث عضوکميسيون تعيين می شود که واجد شرايط ذيل باشد:

۱- تابعيـت افغانسـتان را داشـته باشد.

۲- سن سی سالگی را تکميل نمـوده باشد.

۳- حـداقل دارای سـند تحصـيلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکی وي.

۴- له مدني حقوقو څخه په حرمان، جنايت، بشري ضد جرمونو او د اداري فساد په جرمونو محکوم شوی نه وي.

۵- پنځه کلنه اړونده کاري تجربه ولري.

٦- د ښه شهرت لرونکی وي.

۷- د سياسي ګوند غړيتوب و نه لري.

۸- د دولتي ټاکنيزو يا انتصابي مقامونو متصدي نه وي.

## د غوراوي د کمېټې رامنځته کول

**شلمه ماده:**

(۱) د کمېسيون د غړو د ټاکنې په منظور، د غوراوي کمېټه په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱- د اطلاعاتو او فرهنګ وزير د رئيس په توګه.

۲- د سترې محکمې غړی د سترې محکمې د عالي شورې په ټاکنه د غړي په توګه.

۳- د ولسي جرګې د ديني، فرهنګي،

لیسانس باشد.

۴- به حرمان از حقوق مدنی، جنایت، جرایم ضد بشری و جرایم فساد اداری محکوم نشده باشد.

۵- پنج سال تجربهٔ کاری مرتبط داشته باشد.

٦- دارای شهرت نیک باشد.

۷- عضویت حزب سیاسی را نداشته باشد.

۸- متصدی عهده های انتخابی یا انتصابی دولتی نباشد.

## ایجاد کمیتهٔ گزینش

**مادهٔ بیستم:**

(۱) به منظور تعیین اعضای کمیسیون، کمیتهٔ گزینش به ترکیب ذیل ایجاد می‌گردد:

۱- وزیر اطلاعات و فرهنگ به حیث رئیس.

۲- عضو ستره محکمه به انتخاب شورای عالی ستره محکمه به حیث عضو.

۳- عضو کمیسیون امور دینی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنې او لوړو زده کړو د چارو د کمېسيون غړی د غړي په توګه.

۴- د افغانستان د بشر دحقوقو د خپلواک کمېسيون غړی د هغه کمېسيون په ټاکنه د غړي په توګه.

۵- د رسنيزې صنفي اتحاديې ټاکل شوی استازی د غړي په توګه.

٦- د مدني ټولنې اړوند بنسټونو ټاکل شوی استازی د غړي په توګه.

۷- د افغانستان دمدافع وکيلانو د خپلواک انجمن واکمن استازی د غړي په توګه.

(۲) د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د غوراوي کمېټې سکرتريت په غاړه لري.

(۳) د غوراوي کمېټه د کمېسيون د غړيتوب د لنډ ژوندليک د منلو اعلان د کمېټې د لومړۍ غونډې له جوړېدو څخه وروسته په پنځو کاري ورځو موده کې خپروي.

(۴) د غوراوي کمېټه د رقابتي بهير له پای ته رسېدو وروسته، د نوماندانو له ډلې څخه، د منلو د اعلان د مودې له

فرهنگی، معارف و تحصیلات عالی ولسی جرگه به حیث عضو.

۴- عضو کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان به انتخاب آن کمیسیون به حیث عضو.

۵- نمایندۀ منتخب نهاد های صنفی رسانه ئی به حیث عضو.

٦- نمایندۀ منتخب نهاد های مرتبط جامعۀ مدنی به حیث عضو.

۷- نماینده باصلاحیت انجمن مستقل وکلای مدافع افغانستان به حیث عضو.

(۲) وزارت اطلاعات و فرهنگ سکرتریت کمیتۀ گزینش را به عهده دارد.

(۳) کمیتۀ گزینش اعلان پذیرش خلص سوانح عضویت کمیسیون را در مدت پنج روز کاری بعد از اولین جلسۀ کمیته اعلان می‌نماید.

(۴) کمیتۀ گزینش از جملۀ کاندیدان، پانزده تن واجد شرایط را بعد از ختم روند رقابتی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای ته رسېدو وروسته، د شرایطو لرونکي پنځلس تنه، په لسو کاري ورځو موده کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهوررئیس ته معرفي کوي.

(۵) د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس له پنځلسو تنو څخه پنځه تنه يې د تخصص او جنسیت په پام کې نیولو سره د لومړۍ دورې لپاره د کمېسیون د غړو په توګه په لاندې ترتیب سره ټاکي:

۱- درې غړي د پنځو کلونو لپاره.

۲- دوه غړي د دریوکلونو لپاره.

(٦) د کمېسیون غړي په راتلونکو دوروکې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

(۷) دکمېسیون غړي ددې مادې د (۵ او ٦) فقرو د حکم په پام کې نیولوسره یوازې د یوې دورې لپاره ټاکل کېږي.

(۸) د کمېسیون غړي نه شي کولی د دندې په وخت کې په نورو دندو لاس پورې کړي، د لوړو زده کړو په مؤسسو کې تدریس له دغه حکم څخه

در مدت ده روز کاری بعد از پایان مدت اعلان پذیرش به رئیس جمهوری اسلامی افغانستان معرفی می‌نماید.

(۵) رئیس جمهوری اسلامی افغانستان از میان پانزده تن پنج تن آنها را با نظرداشت تخصص و جنسیت برای دورهٔ اول به حیث اعضای کمیسیون به ترتیب ذیل تعیین می‌نماید:

۱- سه عضو برای مدت پنج سال.

۲- دو عضو برای مدت سه سال.

(٦) اعضای کمیسیون در دوره های بعدی برای مدت پنج سال تعیین می‌گردند.

(۷) اعضای کمیسیون صرف برای یک دوره با نظرداشت حکم فقره های (۵ و ٦) این ماده تعیین می‌گردد.

(۸) اعضای کمیسیون نمی‌توانند، حین تصدی وظیفه به وظایف دیگر اشتغال ورزند. تدریس در مؤسسات تحصیلات عالی از این حکم مستثنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستثني دی.

**د رئیس، مرستیال او منشي ټاکنه**

**یوویشتمه ماده:**

کمېسیون په لومړۍ غونډه کې، د خپلو غړو له منځــه د کمېســیون رئــیس، مرستیال او منشي د دووکلونو او شپږو میاشتو مودې لپاره انتخابوي. دیوې بلې دورې لپاره دهغوی بیا انتخاب مجــاز دی.

**د کمېسیون دندې او واکونه**

**دوه ویشتمه ماده:**

کمېسیون د لاندو دنــدو او واکونــو لرونکی دی:

۱- له ادارو څخــه اطلاعــاتو تــه د لاسرسي له بهیر او د هغو د وړانــدې کولو له څرنګوالي څخه څارنه.

۲- د غوښتونکو د شکایتونو بررسي.

۳- د اړتیا په صورت کــې د ادارو د اطلاع رسونې له مسؤولو مراجعو څخه د سندونو غوښتل.

۴- غوښتونکو او ادارو ته د لازمــو مشورو وړاندې کول.

می‌باشد.

**انتخاب رئیس، معاون و منشی**

**مادۀ بیست و یکم:**

کمیسیون در اولین جلســه، رئــیس، معاون و منشی کمیسیون را از میــان اعضای خویش برای مدت دوســال و شش ماه انتخاب می نماید. انتخــاب مجدد آنها برای یک دورۀ دیگر مجاز می‌باشد.

**وظایف و صلاحیت های کمیسیون**

**مادۀ بیست و دوم:**

(۱)کمیســیون دارای وظــایف و صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- نظارت از پروسۀ دسترســی بــه اطلاعات از ادارات و چگونگی ارایۀ آن.

۲- بررسی شکایات متقاضیان.

۳- مطالبۀ اسناد از مراجع مســؤول اطــلاع رســانی ادارات درصــورت ضرورت.

۴- ارایۀ مشوره های لازم به متقاضیان و ادارات.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- د ادارو د اطلاع رسونې د مسؤولو مراجعو د رپوټونو ارزونه.
۶- جمهور رئیس او د ملي شوري دواړو مجلسونو تـه د کمېسیون د فعالیتونو د کلني رپوټ وړاندې کول او د هغو خپرول.
۷- د روزنیزو برنامو د دایرولـو لـه لارې په هېواد کې د اطلاع رسـونې د فرهنګ پیاوړتیا.
۸- د کمېسیون د فعالیتونو په هکله د عامه پوهاوي لوړول.
۹- د کمېسیون د تصمیمونو خپرول.
۱۰- د دې قانون د حکمونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه.
۱۱- د اړوندو لایحـو او کـړنلارو تصویبول.
۱۲- د ادارو له لوري د اطلاعـاتو د تنظیم د څرنګوالي په هکله د اقل حد معیارونو وضع کول.
۱۳- په دې قانون کې د درج شـوو نورو دندو ترسره کول.
(۲) د دې مادې په مفهوم څارنه د دې قانون د حکمونو د تطبیق له ډول څخه

۵- ارزیابی گزارش مراجع مسـؤول اطلاع رسانی ادارات.
۶- ارایـــهٔ گـــزارش ســـالانهٔ فعالیـــت هـــای کمیســـیون بـــه رئیس جمهور و مجلسین شورای ملی و نشر آن.
۷- تقویت فرهنگ اطلاع رسـانی در کشور از طریق تدویر برنامـه هـای آموزشی.
۸- بلند بردن آگاهی عامه در مـورد فعالیت های کمیسیون.
۹- نشر تصامیم کمیسیون.
۱۰- نظارت از چگونگی تطبیق احکام این قانون.
۱۱- تصویب لوایح و طرزالعمل های مربوط.
۱۲- وضع حداقل معیارها در مـورد چگونگی تنظیم اطلاعـات از جانـب ادارات.
۱۳- انجام سایر وظایف مندرج ایـن قانون.
(۲) نظارت به مفهوم این ماده عبارت از چگونگی تطبیق احکام این قـانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبارت دی.

(۳) کمېسیون د دې قانون له حکمونو سره سم، په خپلو اجراآتو کې خپلواک دی.

## د کمېسیون د غونډو دایرېدل

دروېشتمه ماده:

(۱) د کمېسیون عادي غونډې په اونۍ کې یوځل دایرېږي او فـوق العـاده غونډې د رئیس د تصمیم پربنسټ یا د هغو د غړو د یوه ثلث پـه وړانـدیز دایرېدای شي.

(۲) د کمېسیون د غونډو د دایرېـدو نصاب د هغه د اکثریت غړو شتون دی.

(۳) د کمېسیون تصمیمونه د حاضرو غړو د رایو د اکثریت پر بنسټ نیـول کېږي او د رایو د برابرۍ په صـورت کې، هغه لوری چې رئیس ورته رایـه ورکړې وي، اکثریت ګڼل کېږي خو دا چې په دې قانون کې بل ډول تصـریح شوي وي.

(۴) د فعالیت ډول او د کمېسیون پـه غونډو پورې اړوندې نورې چارې پـه

می‌باشد.

(۳) کمیسیون مطابق احکام این قانون در اجـراآت خـویش مسـتقل می‌باشد.

## تدویرجلسات کمیسیون

مادۀ بیست و سوم:

(۱) جلسـات عادی کمیسیون در هر هفته یکبار دایر می‌گردد و جلسـات فوق العاده بر اساس تصمیم رئیس یـا پیشنهاد یک ثلث اعضای آن دایر شده می‌تواند.

(۲) نصاب تدویر جلسات کمیسـیون حضور اکثریت اعضای آن می‌باشد.

(۳) تصامیم کمیسـیون بـه اسـاس اکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ و در صورت تساوی آراء، طرفـی‌کـه رئیس به آن رای داده باشد، اکثریـت شمرده می‌شود مگر اینکه در این قانون طـور دیگـری تصـریح گردیـده باشد.

(۴) طرز فعالیت و سایر امور مربوط به جلسـات کمیسـیون در طرزالعمـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې جلا کړنلاره کې چې د کمېسیون له لوري وضع کېږي، تنظیمېږي.

**د کمېسیون د تصمیم پلي کول**

**څلېریشتمه ماده:**

(۱) د کمېسیون تصمیم وروستی دی له ابلاغ وروسته د پلي کولو وړ دی.

(۲) که چېرې اداره د کمېسیون تصمیم رعایت نه کړي، کمېسیون کولای شي، موضوع واکمنو مراجعو یا مقاماتو ته محول کړي.

**د کمېسیون دفتر**

**پنځه ویشتمه ماده:**

کمېسیون د مرکزي دفتر لرونکی دی، د اړتیا په صورت کې کولای شي، خپل ساحوي دفترونه هم رامنځته کړي.

**د غړیتوب د له لاسه ورکولو حالات**

**شپږویشتمه ماده:**

(۱) د کمېسیون غړی له لاندې حالاتو څخه په یوه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي:

جداگانهٔ که از طرف کمیسیون وضع می‌شود، تنظیم می‌گردد.

**تطبیق تصمیم کمیسیون**

**مادهٔ بیست و چهارم:**

(۱) تصمیم کمیسیون نهایی بوده بعد از ابلاغ قابل تطبیق می‌باشد.

(۲) هرگاه اداره تصمیم کمیسیون را رعایت ننماید، کمیسیون می‌تواند، موضوع را به مراجع یا مقامات ذیصلاح محول نماید.

**دفتر کمیسیون**

**مادهٔ بیست و پنجم:**

کمیسیون دارای دفتر مرکزی بوده، در صورت ضرورت می‌تواند، دفاتر ساحوی خویش را نیز ایجاد نماید.

**حالات از دست دادن عضویت**

**مادهٔ بیست و ششم:**

(۱) عضوکمیسیون در یکی از حالات ذیل عضویت خویش را از دست می‌دهد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱– د جمهور رئـیس لـه منظـورۍ وروسته لیکلې استعفاء.
۲– په داسې ناعلاجو ناروغیو اختـه کېدل چې د هغه د دندې د اجراء کولو خنډ شي.
۳– له شپږو میاشتو څخه زیـات پـه تنفیذي حبس محکومیت.
۴– د غړیتوب د شرطونو د لرلو پـه اړوند د ناسمو اطلاعاتو وړاندې کول.
۵– په کمېسیون کې د کاري مـودې بشپړول.
٦– د کمېسیون د اړونـدو قوانینـو، مقررو، لایحو او کړنلارو د حکمونو نه رعایتول.
(۲) که چېرې د کمېسیون غړی د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شـوو حالتونو څخه په یوه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکړي او د کمېسیون د کار له دورې څخه لږترلږه یوکال پاتې وي، د اطلاعـاتو او فرهنـگ وزارت د غوراوي کمېټه په لسو کاري ورځـو موده کې ددې قانون د شلمې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي ترکیـب

۱– استعفای کتبی بعـد از منظـوری رئیس جمهور.
۲– مبتلا شدن بـه امـراض صـعب العلاجی کـه مـانع اجـرای وظیفـۀ وی گردد.
۳– محکومیت به حبس تنفیذی بیش از شش ماه.
۴– ارایۀ اطلاعات نا درست مبنی بر داشتن شرایط عضویت.
۵– تکمیـل مـدت کـاری در کمیسیون.
٦– عدم رعایـت احکـام قـوانین، مقرره ها، لوایح و طرزالعمـل هـای مربوط کمیسیون.
(۲) هرگاه عضو کمیسیون در یکی از حالات مندرج فقرۀ (۱) ایـن مـاده عضویت خویش را از دست دهـد و حد اقل یک سال از دورۀ کارکمیسیون بـاقی مانـده باشـد، وزارت اطلاعات و فرهنگ کمیتۀ گـزینش را در مدت ده روز کاری بـه ترکیـب مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بیستم این قانون تشکیل و کمیتـۀ گـزینش اعـلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره جوړوي او د غوراوي کمېټه په کمېسیون کې د غړيتوب د نوماندانو د لنډ ژوند لیک د منلو اعلان، اعلانوي.

(۳) د غوراوي کمېټه د نوماندانو له منځه د شرایطو لرونکي دوه تنه جمهور رئیس ته معرفي کوي.

(۴) جمهور رئیس د دوو تنو له منځه یو يې د کمېسیون د غړي په توګه ټاکي.

## د کمېسیون د غړي عزل

**اووه ویشتمه ماده:**

د کمېسیون د غړي عزل د دې قانون د شپږویشتمې مادې د (۱) فقرې د ۲،۴ او۶ اجزاوو په درج شوو حالاتو کې د کمېسیون د پنځو تنو غړو له تشخیص او تأیید وروسته صورت مومي.

## محدودیتونه

**اته ویشتمه ماده:**

(۱) د کمېسیون رئیس او غړی نشي کولای د تصمیم نیونې په هغو غونډو کې چې ذینفع وي، ګډون وکړي.

(۲) د کمېسیون رئیس او غړي نشي

پذیرش خلص سوانح کاندیدان عضویت در کمیسیون را اعلان می‌نماید.

(۳) کمیتۀ گزینش از میان کاندیدان دو تن واجد شرایط را به رئیس جمهور معرفی می‌نماید.

(۴) رئیس جمهور از میان دو تن یکی از آنها را به حیث عضوء کمیسیون تعیین می‌نماید.

## عزل عضو کمیسیون

**مادۀ بیست و هفتم:**

عزل عضو کمیسیون در حالات مندرج اجزای ۲، ۴ و۶ فقرۀ (۱) مادۀ بیست و ششم این قانون بعد از تشخیص و تائید پنج تن از اعضای کمیسیون صورت می‌گیرد.

## محدودیت‌ها

**مادۀ بیست و هشتم:**

(۱) رئیس و اعضای کمیسیون نمی‌توانند در جلسات تصمیم گیری که ذینفع باشند، اشتراک نمایند.

(۲) رئیس و اعضای کمیسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولای، هغه اطلاعات چې د دندې د اجراء کولو په وخت کې یا د هغې له پرېښودو وروسته یې ترلاسه کړي دي او د دې قانون له حکمونو سره سم ممنوع وي، افشاء یا له هغو څخه د ځان یا د نورو اشخاصو په نفع ګټه اخیستنه وکړي.

(۳) که چېرې د کمېسیون رئیس او غړي د دې مادې په (۲) فقره کې له درج شوي حکم څخه سرغړونه وکړي، سرغړوونکی د قانون له حکمونو سره سم تر عدلي تعقیب لاندې نیول کېږي.

## د کمېسیون دارالانشاء

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) کمېسیون د اداري او اجرایوي چارو د پرمخ بیولو په منظور د دارالانشاء لرونکی دی چې په رأس کې یې رئیس ځای لري.

(۲) د دارالانشاء رئیس د دې قانون په نولسمه ماده کې په درج شوو شرطونو سربېره د بشري سرچینو، مالي او تدارکاتي مدیریت په چارو کې لږترلږه

نمی‌توانند، اطلاعاتی را که حین اجرای وظیفه یا بعد از ترک آن، بدست آورده اند و مطابق احکام این قانون ممنوع باشد، افشاء یا از آن به نفع خویش یا سایر اشخاص استفاده نمایند.

(۳) هرگاه رئیس و اعضای کمیسیون از حکم مندرج فقرهٔ (۲) این ماده تخلف نمایند، متخلف مطابق احکام قانون تحت تعقیب عدلی قرار می‌گیرد.

## دارالانشای کمیسیون

**مادهٔ بیست و نهم:**

(۱) کمیسیون به منظور پیشبرد امور اداری و اجرائیوی دارای دارالانشاء می‌باشد که در رأس آن رئیس قرار دارد.

(۲) رئیس دارالانشاء علاوه بر شرایط مندرج مادهٔ نزدهم این قانون دارای تجربهٔ کاری حداقل پنج سال در امور مدیریت منابع بشری، مالی و تدارکاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه کاله کاري تجربه لري.

(۳) کمېسیون د رایو د اکثریت په توافق سره د شرایطو لرونکو اشخاصو له منځه درې تنه د دارالانشاء ریاست د پست د ترلاسه کولو په مقصد جمهور رئیس ته وړاندیزوي.

(۴) جمهور رئیس د دریو تنو له منځه یو یې د دارالانشاء د رئیس په توگه ټاکي.

(۵) د دارالانشاء کارکوونکي د قانون له حکمونو سره سم گمارل کېږي.

(٦) دارالانشاء خپلې دندې د قانون له حکمونو او هغو کړنلارو سره سم چې د کمېسیون له لوري تصویبېږي، اجراء کوي او د کمېسیون په وړاندې مسؤوله ده.

## د کمېسیون بودجه

**دېرشمه ماده:**

(۱) کمېسیون خپله بودجه له حکومت سره په مشوره کې برابروي او په لګولو کې یې خپلواک دی او د هغې رپوټ د قانون له حکمونو سره سم وړاندې

می‌باشد.

(۳) کمیسیون به توافق اکثریت آراء از میان اشخاص واجد شرایط سه تن را غرض احراز پست ریاست دارالانشاء به رئیس جمهور پیشنهاد می‌نماید.

(۴) رئیس جمهور از میان سه تن یکی از آنها را به حیث رئیس دارالانشاء تعیین می‌نماید.

(۵)کارکنان دارالانشاء مطابق احکام قانون استخدام می‌گردند.

(٦) دارالانشاء وظایف خویش را مطابق احکام قانون و طرزالعمل‌های که از طرف کمیسیون تصویب می‌گردد، اجراء نموده و نزد کمیسیون مسؤول می‌باشد.

## بودجهٔ کمیسیون

**مادهٔ سی ام:**

(۱)کمیسیون بودجهٔ خود را در مشوره با حکومت ترتیب و در مصرف آن مستقل بوده و گزارش آن را مطابق احکام قانون ارائه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي.

(۲) کمېسيون کولای شي، د خپلـــو فعاليتونو د لاښه تنظيم او د اجراآتو د اغيزمنتيا په منظور د قانون له حکمونو سره سم له ملي او بين المللي مؤسسو څخه مالي او تخنيکي مرستې ترلاســـه کړي.

## حقوق او امتيازونه

**يودېرشمه ماده:**

د کمېسيون د غړو لپاره د قانون لـــه حکمونو سره سم مناســـب معـــاش او امتيازونه ټاکل کېږي.

## پنځم فصل

## شکايتونه

## د شکايت حق

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) که چېرې غوښتونکی ډاډ ترلاسه کړي چې د هغه د اطلاعاتو غوښـــتنه ددې قانون له حکمونـــو ســـره ســـم رسيدګي صورت نده موندلې يا د ادارې له اجراآتو څخه رضايت ونـــه لـــري، کولای شي هغې ادارې ته چې له هغې

می‌نماید.

(۲) کميسيون می‌تواند به منظور تنظيم بهتر فعاليت ها و مؤثريـــت اجـــراآت خويش مطابق احکام قانون از مؤسسات ملی و بـــين المللـــی کمـــک هـــای مـــالی و تخنيکـــی را دريافـــت نمايد.

## حقوق وامتيازات

**مادۀ سی و يکم:**

برای اعضای کميسيون مطابق احکام قانون معاش و امتيازات مناسب تعيـــين می‌گردد.

## فصل پنجم

## شکايات

## حق شکايت

**مادۀ سی و دوم:**

(۱) هرگاه متقاضی اطمينان حاصـــل نمايد که به تقاضای اطلاعات وی طبق احکام اين قانون رســـيدگی صـــورت نگرفته يا از اجـــراآت اداره رضـــايت نداشته باشد، مـــی‌توانـــد بـــه ادارۀ که از آن تقاضای اطلاعات صـــورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه د اطلاعاتو غوښتنه شوې یا کمېسیون ته شکایت وکړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي شکایت ته رسیدګي په وړیا ډول صورت مومي.

## د غوښتونکي شکایت

**دري دېرشمه ماده:**

(۱) د هغې ادارې د اطلاع رسونې مسؤول چې له هغې ځخه د اطلاعاتو غوښتنه شوې ده، مکلف دی، د پنځو کاري ورځو په موده کې رسېدلی شکایت بررسي او د هغه د رفع کولو په مقصد د دې قانون له حکمونو سره سم وړ تصمیم ونیسي.

(۲) که چېرې غوښتونکی خپل شکایت لومړی هغې ادارې ته چې له هغې ځخه یې د اطلاعاتو غوښتنه کړې ده وړاندې کړي، د لیکلي ځواب له ترلاسه کولو یا د پنځو کاري ورځو مودې له تېرېدو وروسته کولای شي خپل شکایت کمېسیون ته وړاندې کړي.

(۳) کمېسیون مکلف دی، رسېدلی

گرفته یا به کمیسیون شکایت نماید.

(۲) رسیدگی به شکایت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طور رایگان صورت می‌گیرد.

## شکایت متقاضی

**مادهٔ سی و سوم:**

(۱) مسؤول اطلاع رسانی ادارهٔ که از آن تقاضای اطلاعات صورت گرفته، مکلف است، در مدت پنج روز کاری شکایت واصله را بررسی و غرض رفع آن مطابق احکام این قانون تصمیم مقتضی اتخاذ نماید.

(۲) هرگاه متقاضی شکایت خویش را نخست به ادارهٔ که از آن تقاضای اطلاعات نموده ارائه کند، بعد از گرفتن پاسخ کتبی یا سپری شدن مدت پنج روز کاری می‌تواند، شکایت خویش را به کمیسیون ارائه نماید.

(۳) کمیسیون مکلف است، شکایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکایت د هغه د ترلاسه کولو له نېټې څخه زیات نه زیات په شلو کاري ورځو موده کې بررسي او په دې برخه کې تصمیم ونیسي.

(۴) کمېسیون کولای شي، د اړتیا په صورت کې شکایت ته د رسیدګۍ په بهیر کې د اړوندو مینه والو د ګډون زمینه برابره کړي.

(۵) هغه اداره چې شکایت ورڅخه شوی مکلفه ده، داسې دلایل او مدارک وړاندې کړي چې له قانون سره سم یې عمل کړی دی.

(٦) د شکایتونو او اړوندو سندونو او مدارکو د بررسۍ څرنګوالی په هغې جلا کړنلاره کې چې د کمېسیون له لوري وضع کېږي، تنظیمېږي.

## شکایت ته رسیدګي

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) کمېسیون شکایت ته د رسیدګۍ په وخت کې د لاندو واکونو لرونکی دی:

۱- د لورو او شاهدانو احضارول او

واصله را از تاریخ دریافت آن حد اکثر در مدت بیست روزکاری بررسی و در زمینه تصمیم اتخاذ نماید.

(۴) کمیسیون می‌تواند، در صورت لزوم زمینهٔ اشتراک علاقمندان ذیدخل در روند رسیدگی به شکایات را فراهم نماید.

(۵) ادارهٔ که شکایت از آن صورت گرفته مکلف است، دلایل و مدارکی را ارائه نماید که مطابق قانون عمل نموده است.

(٦) طرز بررسی شکایات، اسناد و مدارک مربوط در طرزالعمل جداگانهٔ که از طرف کمیسیون وضع می‌شود، تنظیم می‌گردد.

## رسیدگی به شکایت

**مادهٔ سی و چهارم:**

(۱) کمیسیون حین رسیدگی به شکایت دارای صلاحیت های ذیل می‌باشد:

۱- دعوت طرفین و سمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شفاهي یا لیکلـــي ډول د هغـــوی د څرګندونو اورېدل.

۲- د سندونو او مدارکو په وړانـــدې کولو د ادارو مکلف کول.

۳- د ادارو د اطلاع رسونې د مراجعو د دفترونو او د سندونو د مـــدیریت او ساتنې د ډول بررسي.

(۲) کمېسیون کولای شي، شکایت ته د رسیدګۍ په وخت کـــې اداره د دې قانون له حکمونو سره سم غوښتونکي ته د اطلاعاتو په وړاندې کولو مکلفـــه کړي، د دې قانون د حکمونو په تطبیق کې د تعلل په صورت کې هغـــه لازم تصمیمونه چې د کمېسیون په واســـطه نیول شوي دي، ترلاس لاندې ونیسي.

(۳) کمېسیون کولای شي شکایت ته د رسیدګۍ په وخت کـــې اداره مکلفـــه کړي ترڅو د اطلاع رسونې د مرجع د چارو د ښه والي، په مناســـب ډول د سندونو د مدیریت، مخکې له مخکې د برابرو شوو اطلاعاتو د خپرولـــو او د کلنې رپوټ د خپرولو په مقصـــد لازم تدبیرونه ونیسي.

اظهارات آنهـــا طـــور شـــفاهی یـــا کتبی.

۲- مکلف نمودن ادارات بـــه ارایـــهٔ اسناد و مدارک.

۳- بررسی دفاتر مراجع اطلاع رسانی ادارات و طرز مدیریت و نگهـــداری اسناد.

(۲) کمیسیون می‌تواند، حین رسیدگی به شکایت اداره را مکلف بـــه ارایـــهٔ اطلاعـــات مطـــابق احکـــام ایـــن قـــانون بـــه متقاضـــی نمایـــد در صورت تعلل در تطبیق احکام این قانون تصـــامیم لازم را کـــه از جانـــب کمیسیون اتخاذ شـــده، روی دســـت گیرد.

(۳) کمیسیون می‌تواند، حین رسیدگی به شکایت اداره را مکلف نماید تا به منظـــور بهبـــود امـــور مرجـــع اطلاع رسانی، مدیریت اســـناد طـــور مناســـب، نشـــر اطلاعـــات از قبـــل تهیـــه شـــده و نشـــر گـــزارش ســـالانه تـــدابیر لازم را اتخـــاذ نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴) که چېرې اداره یا غوښتونکی د کمېسیون په تصمیم قناعت ونلري، کولای شي د دېرشو کاري ورځو په موده کې محکمې ته مراجعه وکړي.

## سرغړونې او تأدیبي مؤیدات

پنځه دېرشمه ماده:

(۱) لاندې موارد، د دې قانون له حکمونو څخه سرغړونه پېژندل کېږي:

۱- غوښتونکي ته د اطلاعاتو د لیکلې غوښتنې د مندرجاتو مغایر د اطلاعاتو وراندې کول.

۲- د قانوني دلایلو له وړاندې کولو پرته غوښتونکي ته د اطلاعاتو له وړاندې کولو څخه ډډه کول.

۳- د واقعیت خلاف کمېسیون ته د اطلاعاتو وړاندې کول.

۴- له قانوني واک پرته د سندونو له منځه وړل.

۵- په ټاکلې موده کې د غوښتل شوو اطلاعاتو نه وړاندې کول.

۶- د کمېسیون د تصمیمونو او کړنلارو نه رعایتول.

(۴) هرگاه اداره یا متقاضی به تصمیم کمیسیون قناعت نداشته باشد، می‌تواند در مدت سی روزکاری به محکمه مراجعه نماید.

## تخلفات و مؤیدات تأدیبی

مادۀ سی و پنجم:

(۱) موارد ذیل، تخلف از احکام این قانون شناخته می‌شود:

۱- ارایۀ اطلاعات مغایر مندرجات تقاضای کتبی اطلاعات به متقاضی.

۲- امتناع از ارایۀ اطلاعات به متقاضی بدون ارایۀ دلایل قانونی.

۳- ارایۀ اطلاعات خلاف واقعیت به کمیسیون.

۴- محو اسناد بدون صلاحیت قانونی.

۵- عدم ارایۀ اطلاعات تقاضا شده در موعد معین.

۶- عدم رعایت تصامیم و طرزالعمل های کمیسیون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- په ټاکلې موده کې د اطلاع رسونې د مسؤولې مرجع له لوري کمېسیون ته د رپوټ نه وړاندې کول.

(۲) کمېسیون د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه د سرغړونې د تثبیت په صورت کې، له احوالو سره سم له لاندې تأدیبي مؤیداتو څخه د یوې په پلي کولو تصمیم نیسي:

۱- توصیه.

۲- لیکلی اخطار.

۳- د قانون له حکمونو سره سم د کسر معاش په باره کې تصمیم نیول او اړوندې ادارې ته دهغه وړاندیزول.

۴- د بیا بیا سرغړونې په صورت کې، د قانون له حکمونوسره سم د سرغړوونکي کارکوونکي د تبدیلی تصمیم نیول او اړوندې ادارې ته د هغه وړاندیزول.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې سرغړونې پېښېدل حقیقي یا حکمي اشخاصو ته د مادي یا معنوي تاوانونو په اوښتو تمام شي، د

۷- عدم ارایهٔ گزارش به کمیسیون از جانب مرجع مسؤول اطلاع رسانی در موعد معین.

(۲) کمیسیون در صورت تثبیت تخلف از حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، حسب احوال به تطبیق یکی از مؤیدات تأدیبی ذیل، تصمیم اتخاذ می‌نماید:

۱- توصیه.

۲- اخطارکتبی.

۳- تصمیم مبنی برکسر معاش طبق احکام قانون و پیشنهاد آن به ادارهٔ مربوط.

۴- در صورت تخلف مکرر، تصمیم تبدیلی کارکن متخلف طبق احکام قانون و پیشنهاد آن به ادارهٔ مربوط.

(۳) هرگاه وقوع تخلفات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به بروز خسارات مادی یا معنوی به اشخاص حقیقی یا حکمی شود، مطابق احکام قانون جبران

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون له حکمونو سره سم جبرانېږي.

(۴) اړوندې ادارې مکلفې دي، د قانون له حکمونو سره سم تأديبي مؤيدات عملي کړي او د هغو له تطبيق څخه کمېسيون ته ډاډ ورکړي.

## د اشخاصو مصئونيت

**شپږدېرشمه ماده:**

هغه شخص چې اطلاعات يې په ښه نيت سره افشاء کړي وي، د اثبات په صورت کې د قانون له حکمونو سره سم د حقوقي، اداري او وظيفوي مصئونيت لرونکی دی او تر ملاتړ لاندې نيول کېږي.

## شپږم فصل
## متفرقه حکمونه

### د مبالغو تحويلول

**اووه دېرشمه ماده:**

په دې قانون کې د درج شوو حکمونو له تطبيق څخه ترلاسه شوي مبالغ د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحويلېږي.

می‌گردد.

(۴) ادارات مربوط مکلف اند، مؤيدات تأديبی را طبق احکام قانون عملی و از تطبيق آن به کميسيون اطمينان دهند.

## مصئونيت اشخاص

**مادهٔ سی و ششم:**

شخصی‌که اطلاعات را با حسن نيت افشاء نموده باشد، درصورت اثبات مطابق احکام قانون دارای مصئونيت حقوقی، اداری و وظيفوی بوده و مورد حمايت قرار می‌گيرد.

## فصل ششم
## احکام متفرقه

### تحويل مبالغ

**مادهٔ سی و هفتم:**

مبالغ حاصله ناشی از تطبيق احکام مندرج اين قانون به حساب واردات دولت، تحويل بانک می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مديريتي اقدامات**

**اته دېرشمه ماده:**

(۱) ادارې مکلفې دي، په مناسب ډول د اطلاعاتو له ساتنې او له دې قانون او له اړوندو معيارونو اوکړنلارو سره د هغو له سمون څخه کمېسيون ته ډاډ ورکړي.

(۲) ادارې مکلفې دي، د دغه قانون د حکمونو د ښه تطبيق په مقصد اړوندو کارکوونکو ته روزنيزې برنامې دايرې او کمېسيون ته ډاډ ورکړي.

**ارجحيت**

**نهه دېرشمه ماده:**

اطلاعاتو ته د لاسرسي په اړه د دې قانون حکمونه د نورو قوانينو په نسبت مرجح دي.

**د لايحو، کړنلارو او لارښوودونو وضع**

**څلوېښتمه ماده:**

کمېسيون کولای شي، د دې قانون د حکمونو د لاښه تطبيق په مقصد،

**اقدامات مديريتی**

**مادۀ سی و هشتم:**

(۱) ادارات مکلف اند، از نگهداری مناسب اطلاعات و مطابقت آن با این قانون و معیارها و طرزالعمل های مربوط به کمیسیون اطمینان دهند.

(۲) ادارات مکلف اند، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون برنامه های آموزشی را برای کارکنان مربوط، تدویر و به کمیسیون اطمینان دهند.

**ارجحیت**

**مادۀ سی و نهم:**

احکام این قانون در رابطه به دسترسی به اطلاعات نسبت به سایر قوانین مرجح می‌باشد.

**وضع لوایح، طرزالعمل ها و رهنمودها**

**مادۀ چهلم:**

کمیسیون می‌تواند، به منظور تطبیق بهتر احکام این قانون، لوایح،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لايحې، کړنلارې او لارښودونه وضع کړي.

**انفاذ**

**يوڅلوېښتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه دېرش (۳۰) ورځې وروسته نافذېږي او د هغه په انفاذ سره د ۱۳۹۳هـجري لمريز کال په (۱۱۵٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون ملغي کېږي.

طرزالعمل ها و رهنمود ها را وضع نمايد.

**انفاذ**

**مادۀ چهل و يکم:**

اين قانون سی (۳۰) روز بعد از تاريخ نشر در جريدۀ رسمی نافذ می‌گردد و با انفاذ آن قانون دسترسی به اطلاعات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۵٦) سال ۱۳۹۳هـ.ش ملغی می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد د توشېح په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس تقنيني فرمان**

ګڼه:(۲۵۷)

نېټه: ۱۳۹٦/۱۲/۱۲

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د څلورشپېتمې مادې د ١٦ جزء او د نهه اويايمې مادې د حکمونو له مخې د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو تعديل او ايزاد چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۲/۱۲/ ۱۳۹٦ نېټې (۱۹) ګڼه مصوبې پر بنسټ د (۳) مادو په دننه کې تصويب شوی دی، توشېح کوم.

**دوه يمه ماده:**

د عدليې وزير او په پارلماني چاروکې د دولت وزير مکلف دي، نوموړی تعديل او دغه فرمان د ملي شوري د

**فرمان تقنينی رئيس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد توشيح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی**

شماره :(۲۵۷)

تاريخ : ۱۳۹٦/۱۲/۱۲

**مادۀ اول:**

به تأسی از احکام جزء ١٦ مادۀ شصت و چهارم و مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، تعديل برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۹) مؤرخ ۱۳۹٦/۱۲/۱۲ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۳) ماده تصويب گرديده است، توشيح می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

وزير عدليه و وزير دولت در امور پارلمانی مؤظف اند، تعديل ياد شده و اين فرمان را در خلال مدت (۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنۍ غونډې له جوړېدو څخه د (۳۰) ورځو مودې په ترڅ کې هغې شورى ته وړاندې کړي.

درېيمه ماده:

دغه فرمان د توشيح له نېټې څخه نافذ او د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د نوموړي تعديل او ايزاد له متن سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

روز از تاريخ انعقاد نخستين جلسهٔ شورای ملی، به آن شورا تقديم نمايند.

مادهٔ سوم:

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ و همراه با مصوبهٔ کابينهٔ جمهوری اسلامی افغانستان و متن تعديل و ايزاد مذکور، در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې مصوبه

ګڼه: (۱۹)

نېټه: ۱۳۹۶/۱۲/۱۲

د افغانستان د اساسي قانون د نهه اويايمې مادې د حکم له مخې، د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو د تعديل او ايزاد طرحه د افغانستان اسلامي جمهوريت دکابينې د ۱۲/ ۱۲/ ۱۳۹۶نېټې په غونډه کې د (۳) مادو په دننه کې تصويب شوه.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی

شماره: (۱۹)

تاريخ: ۱۳۹۶/۱۲/۱۲

به تأسی از حکم مادۀ هفتاد و نهم قانون اساسی افغانستان، طرح تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی به داخل (۳) ماده در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۶/۱۲/۱۲ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان تصويب گرديد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملکي لوړو زده کړو د قانون د ځينو مادو تعديل او ايزاد

**لومړۍ ماده:**

د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۹۵) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د ملکي لوړو زده کړو د قانون د څلورمې مادې ۲جزء، د شپږمې مادې ۴ جزء، دوولسمه، څوارلسمه، نهه ويشتمه، شپږدېرشمه، اووه دېرشمه، اته دېرشمه، يوڅلوېښتمه، دري څلوېښتمه، پنځه څلوېښتمه، شپږڅلوېښتمه، نهه څلوېښتمه، يوپنځوسمه او نهه شپېتمه مادې او د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۵) گڼه رسمي جريده کې خپاره شوې د نوموړي قانون د ځينو مادو تعديل، ايزاد اوحذف دې په لاندې ډول تعديل شي:

**د لوړو زده کړو د وزارت دندې او مکلفيتونه**

۱- څلورمه ماده:

۲- د تقنيني سندونو له حکمونو سره

## تعديل و ايزاد در برخی از مواد قانون تحصيلات عالی ملکی

**مادۀ اول:**

جزء ۲ مادۀ چهارم، جزء ۴ مادۀ ششم، مواد دوازدهم، چهاردهم، بيست و نهم، سی و ششم، سی و هفتم، سی و هشتم، چهل و يکم، چهل و سوم، چهل و پنجم، چهل و ششم، چهل و نهم، پنجاه ويکم و شصت و نهم قانون تحصيلات عالی ملکی منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۹۵) سال ۱۳۹۴ و تعديل، ايزاد و حذف برخی از مواد قانون مذکور منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲٦۵) سال ۱۳۹٦ذيلاً تعديل گردد:

**وظايف و مکلفيت های وزارت تحصيلات عالی**

۱- مادۀ چهارم:

۲- صدور جواز تأسيس مؤسسۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم کورنیو او بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو ته د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې د تأسیس د جواز صادرول او د هغه لغو کول.

**د عالي شورې دندې او واکونه**

**۲- شپږمه ماده:**

۴- د لوړو زده کړو د مؤسسو، پوهنځیو او دیپارتمنتونو د تأسیس، پراختیا، تجزیې، الحاق، ادغام یا د لغو کولو د وړاندیز تأیید.

**اکادمیک بستونه**

**۳- دوولسمه ماده:**

د لوړو زده کړو په مؤسسه کې اکادمیک بستونه:

۱- د علمي کادر د غړو اکادمیک بست.

۲- د تحصیلي مؤسسې د ریاست او معاونیتونو علمي او محصلانو بستونه.

۳- د پوهنځیو د ریاستونو او معاونیتونو بستونه.

۴- د دیپارتمنتونو د آمریتونو

تحصیلات عالی خصوصی به اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و خارجی و الغای آن مطابق احکام اسناد تقنینی.

**وظایف و صلاحیت های شورای عالی**

**۲- مادۀ ششم:**

۴- تائید پیشنهاد تأسیس، توسعه، تجزیه، الحاق، ادغام یا الغای مؤسسات تحصیلات عالی، پوهنځی ها و دیپارتمنت ها.

**بست های اکادمیک**

**۳- مادۀ دوازدهم:**

بست های اکادمیک در مؤسسۀ تحصیلات عالی:

۱- بست اکادمیک اعضای کادر علمی.

۲- بست های ریاست و معاونیت های علمی و محصلان مؤسسۀ تحصیلی.

۳- بست های ریاست ها و معاونیت های پوهنځی ها.

۴- بست های آمریت های

(c) ketabton.com: The Digital Library



بستونه.

۵- د علمي څېړنو د سمون د مرکز د ادارو د مسؤولانو، د لوړو زده کـړو مؤسسو د کادري روغتونونه د استادانو د چارو د سمون، علمي او فرهنګـي مرکزونو، د کيفيت د لوړولو د مرکز، د ماسترۍ او دوکتورا د برنامو رئيسانو او د علمي مجلو د آمريت بستونه.

## د درسي نصاب تطبيق

**۴- څوارلسمه ماده:**

د لوړو زده کړو مؤسسه، خپل درسي نصاب د ډيپارټمنت لـه پرېکـړې، د پوهنځي د علمي شورۍ او د اړونـدې مؤسسې د علمي شورۍ له تأييـد او د لوړو زده کړو وزارت د علمي چارو د معينيت له منظورۍ وروسته، تطبيقوي.

## ډيپارټمنت

**۵- نهه ويشتمه ماده:**

(۱) ډيپارټمنت، آمر او د علمي کادر غړي لري. د ډيپارټمنت آمر د علمـي کادر له غړو څخه چې لـږ ترلـږه د پوهنمل علمـي رتبـه او د ماسـترۍ

ديپارتمنت ها.

۵- بست های مسؤولان ادارات مرکز انسجام تحقیقات علمـی، رؤسـای شفاخانه هـای کـادری مؤسسـات تحصیلات عالی، انسجام امور استادان، مراکز علمی و فرهنگی، مرکز ارتقای کیفیت، برنامه های ماستری و دوکتورا و آمریت مجله های علمی.

## تطبیق نصاب درسی

**۴- مادهٔ چهاردهم:**

مؤسسهٔ تحصیلات عالی، نصاب درسی خود را بعد از فیصلهٔ دیپارتمنت، تائید شورای علمی پوهنځی، شورای علمی مؤسسهٔ مربوط و منظوری معینیت امور علمی وزارت تحصیلات عالی، تطبیق می نماید.

## دیپارتمنت

**۵- مادهٔ بیست و نهم:**

(۱) دیپارتمنت، دارای آمر و اعضای کادر علمی می باشد. آمر دیپارتمنت از میان اعضای کادر علمی که دارای رتبهٔ علمی حداقل پوهنمل و سند تحصیلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تحصیلي سند ولري، په آزاد، سري او مستقیم ډول د دریو کلونو مودې لپاره انتخابېږي او یوازې د یوې بلې دورې لپاره کاندیدېدای شي.

(۲) که چېرې د دغې مادې په (۱) فقره کې د درج شویو شرطونو لرونکي د علمي کادر غړي چه دېپارتمنت کې موجود نه وي. د دېپارتمنت آمر د پوهنیار د علمي رتبې د لرونکو علمي کادر له غړو څخه انتخابېږي.

## د علمي‌کادر د غړو دندې او واکونه

**٦- شپږ دېرشمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي (د استاد مرستیال) دغه دندې او واکونه لري:

۱- د استاد تر نظر لاندې په لوست ورکولو کې ګډون.

۲- د تطبیقاتو، تمرینونو او د عملي کارونو د اجراء کولو لارښوونه.

۳- د مونوګرافونو، د دیپلوم د پروژو، سیمینارونو او د علمي کنفرانسونو په

ماستری باشد، به صورت آزاد، سری و مستقیم برای مدت سه سال انتخاب می‌گردد و صرف برای یک دورهٔ دیگر کاندید شده می تواند.

(۲) هرگاه عضو کادر علمی دارای شرایط مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در دیپارتمنت موجود نباشد. آمر دیپارتمنت از جملهٔ اعضای کادر علمی دارای رتبهٔ علمی پوهنیار انتخاب می‌گردد.

## وظایف و صلاحیت های اعضای کادر علمی

**٦- مادهٔ سی و ششم:**

(۱) اعضای کادر علمی (معاون استاد) دارای وظایف و صلاحیت های ذیل می باشند:

۱- اشتراک در تدریس تحت نظر استاد.

۲- رهنمایی تطبیقات، تمرینات و اجرای کار های عملی.

۳- رهنمایی محصلان در تهیهٔ مونوگراف ها، پروژه های دیپلوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرولو کې د محصلانو لارښوونه.
۴- په کمپتوکې فعال ګډون په اکاډمیکي چارو او د اړونده پوهنځي او تحصیلي مؤسسې د خدمتونو د وړاندې کولو په چارو کې ونډه اخیستنه.
۵- د څېړنو او ژباړې تر سره کول په هغو موضوعګانو کې چې د لارښود استاد له خوا ټاکل شوي او د اړوند دیپارتمنت، پوهنځي یا د تحصیلي مؤسسې له خوا تأیید شوې وي.
٦- په اړونده څانګه کې د پوهې د کچې لوړول.
۷- د عالي سلوک لرل او په اکاډمیکي چاپېریال کې د منل شویو ارزښتونو له بنسټ د دوستانه اړیکو تأمینول.
۸- د ورسپارل شویو دندو په ساحه کې د دغه قانون د حکمونو، مقررو او د نورو نافذو تقنیني سندونو رعایتول او تطبیق.
۹- د اړوندې لایحې له مخې د نورو ورسپارل شویو دندو تر سره کول.
(۲) د علمي کادر غړو (استاد) دغه دندې او واکونه

سیمینارها و کنفرانس های علمی.
۴- اشتراک فعال در کمیته ها، سهم گیری در امور اکادمیک و امور عرضهٔ خدمات پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلی مربوط.
۵- اجرای تحقیقات و ترجمه در موضوعاتی که از طرف استاد رهنما تعیین و مورد تائید دیپارتمنت، پوهنځی یا مؤسسهٔ تحصیلی مربوط قرار گرفته باشد.
٦- ارتقای سطح دانش در رشتهٔ مربوط.
۷- داشتن سلوک عالی و تأمین روابط حسنه بر مبنای ارزش های پذیرفته شده در محیط اکادمیک.
۸- رعایت و تطبیق احکام این قانون، مقررات و سایر اسناد تقنینی نافذ در ساحهٔ وظایف محوله.
۹- انجام سایر وظایف محوله طبق لایحهٔ مربوط.
(۲) اعضای کادر علمی (استاد) دارای وظایف و صلاحیت های ذیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري:

۱- د استاد د مرستیال په روزنــه او تحقیق، لوست ورکولو او د محصلانو د کار په څېړنه کې لارښوونه.

۲- د علمي کادر د غړو د علمي آثارو په باره کې څېړنه او د نظر څرگندول.

۳- په کمېټو کې فعال گډون او پــه اکــاډمیکي چــارو او د اړونـــده دیپارټمنټونو او تحصیلي مؤسســې د خدمتونو په وړاندې کولو کې ونــډه اخیستنه.

۴- د درسي موادو (درسي کتــاب، مرستندویو درســي کتــاب، لکچــر، لکچر نوټ او د درسي برخې د اړتیاوو نورو موادو) برابرول.

۵- د علمي څېړنو تر سره کول، ژباړه او په هغو موضوعگانوکې د علمي آثارو تالیفات چــې د اړونــد دیپارټمنــت، پوهنځي یا د تحصیلي مؤسسې لخــوا ورته سپارل کېږي.

۶- په اړونده تحصیلي مؤسسه کې د زده کړې د کیفیت په ښــه والــي او لوړولو کې فعال گډون.

می باشند:

۱- رهنمایی در آمــوزش و تحقیــق معاون استاد، تدریس و ارزیابی کــار محصلان.

۲- ارزیابی و ابراز نظر در مورد آثار علمی اعضای کادر علمی.

۳- اشتراک فــعال در کمیته هــا و سهم گیــری در امــور اکادمیــک و عرضــۀ خــدمات دیپارتمنـــت هـــا، پـــوهنځی هـــا و مؤسســـۀ تحصـــیلی مربوط.

۴- تهیه و ترتیب مواد درســی (کتــاب درسی، کتــاب ممــد درســی، لکچــر، لکچرنوت و ســایر مــواد نیــاز جــزوۀ درسی).

۵- اجرای تحقیقات علمی، ترجمه و تألیفات آثار علمی در موضوعاتی که از طرف دیپارتمنت، پوهنځی یا مؤسسۀ تحصــیلی مربــوط بــه وی ســپرده می شود.

۶- اشتراک فعال در بهبود و ارتقای کیفیت تحصیل در مؤسسۀ تحصــیلی مربوط.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- د عالي سلوک لرل او په اکاډمیکي چاپیریال کې د منل شویو ارزښــتونو پربنسټ د دوستانه اړیکو تأمینول.

۸- د ورسپارل شویو دندو په ســاحه کې ددغه قانون د حکمونو، مقررو او نورو نافذو تقنیني سندونو رعایتول او تطبیق.

۹- له اړوندې لایحې سره سم د نورو ورسپارل شوو دندو تر سره کول.

(۳) د پوهاند د علمي رتبې لرونکــی استاد د دغې مادې په (۲) فقره کې په لیکل شویو دندو او واکونو سربېره په کال کې د یوه علمي کنفــرانس پــه جوړولو او په معتبرو بین المللي خپرونو کې د یوې علمي مقالې یا په یوه کورنۍ معتبره خپرونه کې د دوو مقــالو پــه خپرولو مکلف دی.

(۴) د علمي کادر د غړو په حاضــرۍ پورې اړوند مکلفیت د جلا لایحې پــه واسطه تنظیمېږي.

۷- داشتن سلوک عــالی و تــأمین روابط حسنه بر مبنــای ارزش هــای پذیرفته شده در محیط اکادمیک.

۸- رعایت و تطبیــق احکــام ایــن قــانون، مقــررات و ســایر اســناد تقنینــی نافــذ در ســاحهٔ وظــایف محوله.

۹- انجام سایر وظایف محوله طبــق لایحهٔ مربوط.

(۳) استاد دارای رتبهٔ علمی پوهانــد علاوه بر وظایف و صــلاحیت هــای منــدرج فقــرهٔ (۲) ایــن مــاده، مکلف به ایراد یک کنفرانس علمی و نشر یک مقالهٔ علمی در نشریه هــای معتبــر بــین المللــی یــا دو مقالــه در نشریهٔ معتبــر داخلــی در ســال می باشد.

(۴) مکلفیت مربــوط بــه حاضــری اعضای‌کادر علمــی توســط لایحــهٔ جداگانه تنظیم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پوهنیار د منلو شرطونه

**۷- اووه دېرشمه ماده:**

(۱) هغه شخص د پوهنیار په توګه منل کېږي چې د لاندې شرطونو لرونکی وي:

۱- د لوړو دولتي زده کړو د مؤسسو له حضوري برنامې څخه د ما سترۍ د تحصیلي سند لرل. د هېواد په دننه کې د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې د فارغانو د ماسترۍ تحصیلي سندونه هغه وخت منل کېږي چې دغې مؤسسې د لوړو زده کړو له وزارت څخه اکاډمیکي اعتبار ترلاسه کړی وي.

۲- په دولتي لوړو زده کړو مؤسسو کې له پنځه دېرشو(۳۵)کلونو څخه د عمر نه لوړوالی.

۳- په یوه معتبره بین المللي ژبه کې له آزموینې څخه د بریالیتوب د سند وړاندې کول.

۴- له اړوندې لایحې سره سم په بریالیتوب سره د آزموینې تېرول.

۵- له اړوندې لایحې سره سم د

## شرایط پذیرش پوهنیار

**۷- مادهٔ سی و هفتم:**

(۱) شخصی به حیث پوهنیار پذیرفته می شود که واجد شرایط ذیل با شد:

۱- داشتن سند تحصیلی ماستری از برنامهٔ حضوری مؤسسات تحصیلات عالی دولتی. اسناد تحصیلی ماستری فارغان مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی داخل کشور زمانی پذیرفته می‌شود که مؤسسهٔ مذکور اعتبار اکادمیک را از وزارت تحصیلات عالی کسب نموده باشد.

۲- عدم تجاوز سن از سی و پنج (۳۵) سال در مؤسسات تحصیلات عالی دولتی.

۳- ارایهٔ سند مؤفقیت از امتحان در یکی از زبان های معتبر بین المللی.

۴- سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان شمول طبق لایحهٔ مربوط.

۵- ارایهٔ مؤفقانه کنفرانس

(c) ketabton.com: The Digital Library



استادانو او د ژوري هيئت په محضر کې په برياليتوب سره د علمي کنفرانس ورکول.

٦- د هېواد په دننه کې د زده کړې په بهيرکې د ماسترۍ د زده کړې د دورې په سلوکې د لږ ترلږه اتيا نمرو د اوسط او د لېسانس د زده کړې د دورې په سلوکې د لږترلږه اويا اوسط نمرو لرل او له يوځل څخه زيات نه مشروطېدل له هېواد څخه بهر د لوړو زده‌کړو د مؤسسو فارغانو ته، د نمرو د تياکلي شوي فيصدي د نه پشپړولو په صورت کې، د ماسترۍ او لېسانس د تحصيلي سويې د داوطلب د نمرو اوسط بايد د اړونده هېواد په معيارونو (Grade B) يا له دې څخه لوړ ولري او د زده کړې په بهير کې له يوځل څخه زيات مشروط نه وي.

٧- د رشتوي لړۍ او د تخصصي مضمونونو په سلوکې د شپېتو د ورته والي لرل.

٨- په اخلاقي جرمونو او جنايت نه محکوميت.

علمی در محضر استادان و هیئت ژوری طبق لایحهٔ مربوط.

٦- داشتن حداقل هشتاد فیصد اوسط نمرات دورهٔ تحصیل ماستری و حد اقل هفتاد فیصد اوسط نمرات دورهٔ تحصیل لیسانس و بیش از یک مرتبه مشروط نبودن در جریان تحصیل در داخل کشور. برای فارغان مؤسسات تحصیلات عالی خارج از کشور، در صورت عدم تکمیل فیصدی تعیین شدهٔ نمرات، اوسط نمرات داوطلب سویهٔ تحصیلی ماستری و لیسانس باید به معیارهای کشور مربوط، حایز (Grade B) یا بالاتر از آن بوده و بیش از یک مرتبه در جریان تحصیل مشروط نباشد.

٧- داشتن تسلسل رشتوی و تشابهٔ شصت فیصد مضامین تخصصی.

٨- عدم محکومیت به جرایم اخلاقی و جنایت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- د جسماني او رواني روغتيا او سلامتيا لرل.
۱۰- په نورو ادارو او مراجعو کې د مصروفيت نه لرل.
(۲) هغه اشخاص چې د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو له حضوري برنامو څخه د PharmD، DMD، MD او DVM تحصيلي سند لرونکي وي د دې مادې د (۱) فقرې له ۲ تر ۱۰ اجزاوو پورې د درج شوو شرطونو په پام کې نيولو سره د پوهنيار په توګه منل کېږي. له هېواد څخه بهر د خصوصي مؤسسې له حضوري برنامې څخه اسناد هغه وخت منل کېږي چې نومړې مؤسسه په اړوند هېواد کې اکاډميک اعتبار لرونکې وي.
(۳) د علمي کادر د غړو د ټاکنې په وخت کې د ماسترۍ د تحصيلي سند په وړاندې د دوکتورا د تحصيلي سند لرونکو کانديدانو او د لېسانس د تحصيلي سند په وړاندې د ماسترۍ د تحصيلي سند لرونکو کانديدانو ته د

۹- داشتن صحت و سلامت جسمانی و روانی.
۱۰- نداشتن مصروفيت در ساير ادارات و مراجع.
(۲) اشخاصی‌که دارای سند تحصيلی PharmD، DMD، MD و DVM از برنامه های حضوری مؤسسات تحصيلات عالی دولتی باشند با نظرداشت شرايط مندرج اجزای ۲ الی ۱۰ فقرۀ (۱) اين ماده به حيث پوهنيار پذيرفته می‌شوند. اسناد از برنامۀ حضوری مؤسسۀ تحصيلی خصوصی خارج از کشور زمانی پذيرفته می‌شود که مؤسسۀ مذکور دارای اعتبار اکادميک درکشور مربوط باشد.
(۳) حين تقرر اعضای کادر علمی به کانديدان دارای سند تحصيلی دوکتورا در برابر سند تحصيلی ماستری و سند تحصيلی ماستری در برابر سند تحصيلی ليسانس حق اولويت داده

لومړيتوب حق ورکول کېږي.

(۴) د دولتي لوړو زده کړو مؤسسو له حضوري برنامو څخه د لېسانس د تحصيلي سند لرونکي اشخاص په هغه صورت کې په علمي کادر کې ټاکل کېدای شي چې په نظر وړ بست کې د ټاکنې لپاره د دوکتورا يا د ماسترۍ د تحصيلي سند لرونکي کانديدان موجود نه وي.

(۵) د لېسانس د تحصيلي سند لرونکي اشخاص د زده کړې په بهير کې په سلوکې د لږترلږه پنځه اويا اوسط نمرو په لرلو له يوځل څخه زيات د مشروطي په نه لرلو سره د پوهنيار د نوماند په توګه ټاکل کېدای شي. د پوهنيار د نوماندۍ دوره زياد نه زياد شپږ کاله ده.

(۶) د پوهنيار نوماند د پوهنيار علمي رتبې د پنځه اويا سلنې معاش مستحق دی.

(۷) د پوهنيار نوماند د ماسترۍ د تحصيلي سند د ترلاسه کولو او د هغه د قانوني پړاوونو له پشپړولو وروسته د

می‌شود.

(۴) اشخاص دارای سند تحصیلی لیسانس از برنامه های حضوری مؤسسات تحصیلات عالی دولتی در صورتی در کادر علمی مقرر شده می‌توانند که کاندیدان دارای سند تحصیلی دوکتورا یا ماستری برای تقرر در بست مورد نظر موجود نباشد.

(۵) اشخاص دارای سند تحصیلی لیسانس با داشتن حداقل هفتاد و پنج فیصد اوسط نمرات و نداشتن بیش از یک مرتبه مشروطی در جریان تحصیل به حیث نامزد پوهنیار مقرر شده می‌توانند. دورهٔ نامزدی پوهنیار حداکثر شش سال می‌باشد.

(۶) نامزد پوهنیار مستحق هفتاد و پنج فیصد معاش رتبهٔ علمی پوهنیار می‌باشد.

(۷) نامزد پوهنیار بعد از اخذ سند تحصیلی ماستری و طی مراحل قانونی آن به رتبهٔ علمی پوهنیار ارتقاء

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنيار علمي رتبې ته لوړېږي.

(۸) د لوړو زده کړو وزارت، د دغې مادې په (۵) فقره کــې درج شــوي اشخاص د دغه تعديل د انفاذ له نېټــې څخه تر څلورو کلونو پورې د دولتــي لوړو زده کړو په مؤسسو کې منلــي شي.

## د پوهنمل د منلو شرطونه

۸- اته دېرشمه ماده:

هغه شخص د پوهنمل په توګــه منــل کېږي چې د لاندې شرطونو لرونکــي وي:

۱- د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسې له حضوري برنامې څخه د دوکتـــورا (PhD) تحصيلي سند لرل.

۲- له هېواد څخه بهــر د خصوصــي تحصيلي مؤسسې د حضوري دوکتورا (PhD) تحصيلي سند هغه وخت منل کېدای شي چې دغه مؤسسه په اړوند هېواد کې اکاډميک اعتبار ولري.

۳- په يوې معتبرې بين المللي ژبـــې بشپړه واکمني او يا په برياليتوب سره په

می‌نماید.

(۸) وزارت تحصیلات عالی، اشخاص مندرج فقرهٔ (۵) این مــاده را الــی مدت چهار ســال اعتبــار از تــاریخ انفــاذ ایــن تعــدیل در مؤسســات تحصیلات عــالی دولتــی پذیرفتــه می‌تواند.

## شرایط پذیرش پوهنمل

۸- مادهٔ سی و هشتم:

شخصی به حیــث پوهنمــل پذیرفتــه می‌شود کــه واجــد شــرایط ذیــل باشد:

۱- داشتن سند تحصــیلی دکتــورا (PhD) از برنامهٔ حضوری مؤسســهٔ تحصیلات عالی دولتی.

۲- سند تحصــیلی دکتــورا (PhD) حضوری مؤسسهٔ تحصیلی خصوصــی خارج از کشور زمانی پذیرفته می‌شود که مؤسســهٔ مــذکور دارای اعتبــار اکادمیک در کشور مربوط باشد.

۳- تسلط کامل بر یکی از زبان های معتبر بین المللی یا ســپری نمــودن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه له دغو ژبو کې د آزموينې تېرول.

۴- په دولتي لوړو زده کړو مؤسسو کې له پنځه څلوېښتو (۴۵) کلونو څخه د عمر نه لوړ والی.

۵- د رشتوې لړۍ لرل او د تخصصي مضمونونو په سلوکې د شپېته ورته والی.

۶- له اړوندې لايحې سره سم د استادانو او د ژورې هيئت په محضر کې په برياليتوب سره د علمي کنفرانس ورکول.

۷- د داوطلبانو د زياتوالي په صورت کې د رقابتي آزموينې اخيستل.

۸- په اخلاقي جرمونو او جنايت نه محکوميت.

۹- د جسماني او رواني روغتيا او سلامتيا لرل.

۱۰- په نورو ادارو او مراجعو کې د مصروفيت نه لرل.

مؤفقانۀ امتحان در يکی از زبان های مذکور.

۴- عدم تجاوز سن از چهل و پنج (۴۵) سال در مؤسسات تحصيلات عالی دولتی.

۵- داشتن تسلسل رشتوی و تشابۀ شصت فيصد مضامين تخصصی.

۶- ارايۀ مؤفقانۀ کنفرانس علمی در محضر استادان و هيئت ژوری، طبق لايحۀ مربوط.

۷- اخذ امتحان رقابتی در صورت تعدد داوطلبان.

۸- عدم محکوميت به جرايم اخلاقی و جنايت.

۹- داشتن صحت و سلامت جسمانی و روانی.

۱۰- نداشتن مصروفيت در ساير ادارات و مراجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د علمي رتبو تثبيت

**۹- يوڅلوېښتمه ماده:**

(۱) د پوهيالي او پوهنيار د علمي رتبو لرونکي د علمي کادر غـړي چـې د ماسترۍ او دوکتورا د تحصيلي سند په ترلاسه کولو برياليي کېږي او د دوي د ټاکنې په وخت کې د دغو تحصـيلي سندونو څخه استفاده نه وي شوي، د دوي علمي رتبـې پـه لانـدې ډول تثبيتېږي:

۱- د علمي کادر هغه غـړي چـې د ماسترۍ تحصيلي سند له ترلاسه کولو مخکې پوهيالي وي، د پوهنيار په علمي رتبه تثبيتېږي.

۲- د علمي کادر هغه غـړي چـې د دوکتورا د تحصيلي سند لـه ترلاسـه کولو مخکې، پوهيالي يا پوهنيار وي د پوهنمل په علمي رتبه تثبيتېږي.

۳- د علمي کادر هغو غړو تيزس چې د دغې فقرې د ۱ او ۲ اجزاوو له مخې د علمي رتبې په تثبيتولو برياليي کېږي په علمي ترفيع ګانوکې د اصلي اثر پـه

## تثبيت رتب علمی

**۹- مادۀ چهل و یکم:**

(۱) اعضـای کـادر علمـی دارای رتـب علمـی پوهیـالی و پوهنیـار که به اخذ سند تحصیلی ماسـتری و دوکتورا نایل می‌شـوند و اسـناد تحصیلی یاد شـده در زمـان تقـرر آنها مورد اسـتفاده قـرار نگرفتـه، رتب علمی آنها قـرار ذیـل تثبیـت می‌گردد:

۱- آنعده اعضای کادر علمی که قبل از کسب سند تحصـیلی ماسـتری، پوهیالی باشند به رتبۀ علمی پوهنیـار تثبیت رتبه می‌گردند.

۲- آنعده اعضای کادر علمی که قبل از کسب سند تحصـیلی دوکتـورا، پوهیالی یا پوهنیار باشند به رتبۀ علمی پوهنمل تثبیت رتبه می‌گردند.

۳- تیزس اعضای کادر علمی که بـه تثبیت رتب علمی طبق اجزای ۱و۲ این فقره نایل می‌شوند، منحیث اثر اصلی در ترفیعات علمـی قابـل محاسـبه

توګه د محاسبې وړ نه دی.

(۲) د ماسترۍ او دوکتورا دوه یم تیزس په علمي ترفیع ګانو کې یواځې د فرعي اثر په توګه د محاسبې وړ دی.

(۳) د دغې مادې د (۱) فقرې په ۱ او۲ اجزاوو کې د ماسترۍ او دوکتورا (PhD) لیکل شوي تحصیلي سندونو د دولتي لوړو زده‌کړو د مؤسسو له حضوري برنامو څخه منل کیږي.

(۴) د هېواد د ننه د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې له حضوري برنامو څخه د دې مادې د (۱) فقرې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج شوي د ماسترۍ او دکتورا (PhD) تحصیلي سندونه هغه وخت منل کیږي چې یاده مؤسسه خپل اکادمیک اعتبار د لوړو زده‌کړو له وزارت څخه ترلاسه کړی وي.

(۵) له هېواد څخه بهر د خصوصي لوړو زده کړو د مؤسسې له حضوري برنامو څخه د ماسترۍ او دوکتورا (PhD) تحصیلی سندونه هغه وخت

نمی‌باشد.

(۲) تیزس دومی ماستری و دوکتورا صرف منحیث اثر فرعی در ترفیعات علمی قابل محاسبه می‌باشد.

(۳) اسناد تحصیلی ماستری و دوکتورا (PhD) مندرج اجزای ۱ و۲ فقرهٔ (۱) این ماده از برنامه های حضوری مؤسسات تحصیلات عالی دولتی پذیرفته می‌شود.

(۴) اسناد تحصیلی ماستری و دوکتورا (PhD) مندرج اجزای ۱ و۲ فقرهٔ (۱) این ماده از برنامه های حضوری مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی داخل کشور زمانی پذیرفته می‌شود که مؤسسهٔ مذکور اعتبار اکادمیک خویش را از وزارت تحصیلات عالی کسب نموده باشد.

(۵) اسناد تحصیلی ماستری و دوکتورا (PhD) از برنامهٔ حضوری مؤسسهٔ تحصیلات عالی خصوصی خارج ازکشور زمانی پذیرفته



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



منل کېږي چې یاده مؤسسه په اړونـد هېواد کې د اکادمیک اعتبار لرونکـې وي.

(٦) د علمي کادر د غړو د علمي رتبو د تثبیت او ترفیع په منظور د ماسترۍ او دوکتورا (PhD) دوول او د نومـوړو دورو د لږ ترلږه نمرو لرل د جلا لایحې په واسطه تنظیمېږي.

## په دولتي اداري بستونوکې ټاکنې

**۱۰- دري څلوېښتمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي چې د واکمنو مقاماتو د لزوم دید پر بنا پـه دولتـي اداري بستونو کې ټاکل کېږي په هغه صورت کې خپل اکاډمیک بست ساتي چې په اونۍ کې لږترلږه څلور سـاعته لوست ورکړي او د دیپارتمنـت پـه غونډو کې ګډون وکړي.

(۲) که چېرې د علمي کادر غړي لـه دندې څخـه تېرشـي د اړتیـا او د اکاډمیک بست د شتون په صورت کې د پخواني علمي رتبې په ساتنې سره په اکاډمیک بست کې د ده بیا شمولیت

می‌شود که مؤسسـهٔ مـذکور دارای اعتبار اکادمیک در کشـور مربـوط باشد.

(٦) نوعیـت ماسـتری و دوکتـورا (PhD) و داشتن حداقل نمرات دوره های مذکور به منظور تثبیت و ترفیـع رتب علمی اعضای کادر علمی توسط لایحهٔ جداگانه تنظیم می‌گردد.

## تقرر در بست های اداری دولتی

**۱۰- مادهٔ چهل و سوم:**

(۱) اعضای کادر علمی که بنابر لزوم دید مقامات ذیصلاح در بست هـای اداری دولتی مقرر می‌شوند، در صورتی بست اکادمیک شان حفظ می‌باشد که حداقل در هفتهٔ چهار ساعت تـدریس نمـوده و در جلسـات دیپارتمنـت اشتراک نمایند.

(۲) هرگاه عضوکادر علمی از وظیفه قطع علاقه نماید، شمول مجدد وی در بست اکادمیک با حفظ رتبهٔ علمی قبلی در صورت ضرورت و موجودیت بست اکادمیک صرف بـرای یکبـار بـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې د يوه ځل لپاره د دغو شرطونو په پام کې نيولو سره ترسره کېدای شي:
۱- په هغه صورت کې چې د پوهاند په علمي رتبه د دوکتورا (PhD) تحصيلي سند لرونکي او پوهنوال د ماستري تحصيلي سند لرونکي په رتبه د بيا ټاکنې لپاره د غوښتونکي عمر له پنځوسو (۵۰) کلونو او د پوهندوي او پوهنمل علمي رتبې لپاره له پنځه څلوېښتو (۴۵) کلونو او د پوهنيار علمي رتبې لپاره له څلوېښتو (۴۰) کلونو څخه لوړ شوی نه وي.
۲- په هغه صورت کې چې د لوړو زده کړو له مؤسسې څخه د غوښتونکي د انفصال دوره د ده د کار له دورې څخه زياته نه وي او په هېڅ صورت له لسو (۱۰) کلونو څخه لوړ نه وي.
۳- په هغه صورت کې چې د دې قانون د يو پنځوسمې مادې له حکم سره سم له علمي کادر څخه منفک شوی نه وي.

نظرداشت شرايط ذيل صورت گرفته می‌تواند:
۱-درصورتی‌که سن متقاضی برای تقرر مجدد به رتبهٔ علمی پوهاند دارای سند تحصيلی دوکتورا (PhD) و پوهنوال دارای سند تحصيلی ماستری از پنجاه (۵۰) سال و برای رتبهٔ علمی پوهندوی و پوهنمل از چهل و پنج (۴۵) سال و برای رتبهٔ علمی پوهنيار از چهل (۴۰) سال تجاوز نکرده باشد.
۲- درصورتی‌که دورهٔ انفصال متقاضی از مؤسسهٔ تحصيلات عالی بيشتر از دورهٔ کار موصوف نباشد و به هيچ صورت از ده (۱۰) سال تجاوز ننمايد.
۳- در صورتی‌که مطابق حکم مادهٔ پنجاه و يکم اين قانون از کادر علمی منفک نه شده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د استاد د مرستیال د علمي رتبو ترفیع**

**۱۱- پنځه څلویښتمه ماده:**

(۱) پوهنیار د دغو شرطونو د بشپړولو په صورت کې د پوهنمل علمي رتبې ته ترفیع کوي:

۱- د پوهنیار په علمي رتبه کې د لږ ترلږه درې کاله بالفعل خدمت ترسره کول.

۲- د دیپارتمنت په وړاندیز او د پوهنځي د علمي شورې په تأیید د ترفیع له مودې څخه لږ ترلږه یو کال مخکې د علمي څېړنیزې رسالې د موضوع انتخاب یا ژباړنه اولارښود استاد ټاکنه.

۳- د یوې علمي- څېړنیزې رسالې لیکل یا ژباړل چې د لارښود استاد او د یو بل استاد له خوا تأیید شوي وي او د جلا ژوري هیئت له لوري د مناقشې وړ ګرځېدلې وي. د ماسترۍ تیزس په هغه صورت کې چې پخوا په علمي ترفیع او ټاکنه کې د استفادې وړ نه وي ګرځېدلې، د علمي رسالې پرځای منل

**ترفیع رتب علمی معاون استاد**

**۱۱- مادۀ چهل و پنجم:**

(۱) پوهنیار در صورت اکمال شرایط ذیل به رتبۀ علمی پوهنمل ترفیع می‌نماید:

۱- سپری نمودن حداقل سه سال خدمت بالفعل در رتبۀ علمی پوهنیار.

۲- انتخاب موضوع رسالۀ علمی- تحقیقی یا ترجمه و تعیین استاد رهنما حداقل یک سال قبل از موعد ترفیع به پیشنهاد دیپارتمنت و تائید شورای علمی پوهنځی.

۳- تحریر یک رسالۀ علمی- تحقیقی یا ترجمۀ که از طرف استاد رهنما و یک استاد دیگر تائید شده و از طریق هیئت ژوری جداگانه مورد مناقشه قرار گرفته باشد. تیزس ماستری در صورتی که قبلاً در تقرر و ترفیع علمی مورد استفاده قرار نگرفته باشد، به عوض رسالۀ علمی پذیرفته شده

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېدای شي.

۴- د څلورو مطبوعو علمي آثارو لرل.

۵- په هغو موضوعګانو کې چې د دیپارتمنت او د پوهنځي د علمي شورې د جلسې له لورې ټاکل شوې او د ژورې هیئت په واسطه مثبت بلل شوې وي د پوهنځي او د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر کې د دوو علمي کنفرانسونو وړاندې کول.

۶- د دیپارتمنت د آمر په واسطه د کار له پلان سره سم په بریالیتوب سره د اکاډمیکي مکلفیتونو د ترسره کولو د څرنګوالي رپوټ او د دیپارتمنت په مجلس کې د هغه تأیید.

۷- د لارښود استاد په واسطه د هرکال په پای کې د تدریسي علمي فعالیتونو د رپوټ وړاندې کول چې د علمي کادر د غړي د ټاکل کېدو په پیل کې ټاکل کېږي او د دیپارتمنت د مجلس په واسطه د هغه تأیید.

۸- د علمي ترفیع په اصلي اثر او د هغه په محتوا د کار د پرمختګ په باره

می‌تواند.

۴- داشتن چهار اثر علمی مطبوع.

۵- ارایهٔ دوکنفرانس علمی در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلات عالی در موضوعاتی که از طرف جلسهٔ دیپارتمنت و شورای علمی پوهنځی تعیین شده و توسط هیئت ژوری مثبت ارزیابی شده باشد.

۶- گزارش از چگونگی انجام مؤفقانهٔ مکلفیت های اکادمیک مطابق پلان کار توسط آمر دیپارتمنت و تائید آن در مجلس دیپارتمنت.

۷- ارایهٔ گزارش فعالیت های تدریسی و علمی در اخیر هر سال توسط استاد رهنما که در آغاز تقرر عضوکادر علمی تعیین می‌گردد و تائید آن توسط مجلس دیپارتمنت.

۸- ابراز نظر مثبت استاد رهنمای مندرج جزء ۲ این فقره در مورد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د دغې فقرې په ۲ جزء کې د درج شوي لارښود استاد د مثبت نظر څرګندول او د دیپارتمنت د مجلس په واسطه د هغه تأیید.

۹- په بریالیتوب سره په یوې بین المللي معتبرې ژبې کې د آزموینې تېرول.

(۲) پوهنمل د لاندې شرطونو د بشپړولو په صورت کې د پوهندوی علمي رتبې ته ترفیع کوي:

۱- د پوهنمل په علمي رتبه کې لږ ترلږه درې کاله بالفعل خدمت ترسره کول.

۲- د دیپارتمنت په وړاندیز او د پوهنځي د علمي شورې په تأیید د ترفیع د مودې څخه لږ ترلږه یو کال مخکې په یوې ملي ژبې د یوه کتاب یا د مرستندوی درسي کتاب د ژباړنې انتخاب او د لارښود استاد ټاکنه.

۳- په یوې ملي ژبې د دوکتورا د تیزس ژباړه په هغه صورت کې چې پخوا له اصلي نسخې څخه یې په ټاکنه، تثبیت او علمي ترفیع کې استفاده نه وي

پیشرفت کار بالای اثر اصلی ترفیع علمی و محتوای آن و تائید آن توسط مجلس دیپارتمنت.

۹- سپری نمودن مؤفقانۀ امتحان در یکی از زبان های معتبر بین المللی.

(۲) پوهنمل در صورت اکمال شرایط ذیل به رتبۀ علمی پوهندوی ترفیع می‌نماید:

۱- سپری نمودن حداقل سه سال خدمت بالفعل در رتبۀ علمی پوهنمل.

۲- انتخاب ترجمۀ یک کتاب یا کتاب ممد درسی به یکی از زبان های ملی و تعیین استاد رهنما حداقل یک سال قبل از موعد ترفیع به پیشنهاد دیپارتمنت و تائید شورای علمی پوهنځی.

۳- ترجمۀ تیزس دوکتورا به یکی از زبان های ملی درصورتی که قبلاً نسخۀ اصلی آن در تقرر، تثبیت و ترفیع علمی مورد استفاده قرار نگرفته باشد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې، د اصلي اثر په توګه منل کېدای شي.

۴- د شپږو مطبوعو علمي آثارو لـــرل چې له دې جملې څخه دوه آثــارېې د پوهنملي په دوره کې په یوې کورنۍ یا بهرنۍ علمي معتبره مجله کـــې چـــاپ شوې وي.

۵- د دیپارټمنت د آمر په واسطه د کار له پلان سره سم په بریالیتوب ســـره د اکاډمیکي مکلفیتونو د ترسره کولو د څرنګـــوالي د رپـــوټ برابـــرول او د دیپارټمنت په مجلس کې د هغه تأیید.

۶- د لارښود استاد په واسطه د هـــر کال په پای کې د تدریسي او علمـــي فعالیتونو د رپوټ وړاندې کول چې د علمي کادر د غړي د ټاکنې په پیل کې ټاکل کېږي او د دیپارټمنت د مجلس لخوا د هغو تأیید.

۷- د علمي ترفیع په اصلي رسالې او د هغې په محتوا د کار د پرمختـــګ پـــه اړوند د دغې فقرې په ۲ جزء کـــې د درج شوي لارښود استاد د مثبت نظر څرګندول او د دیپارټمنت د مجلس په

منحیث اثر اصـــلی پذیرفتـــه شـــده می تواند.

۴- داشتن شش اثر علمی مطبوع که از جملـــــه دو اثـــــر آن در یکـــــی از مجله های معتبر علمی داخلی یـــا خارجی در دورهٔ پوهنملی چاپ شـــده باشد.

۵- گـــزارش از چگـــونگی انجـــام مؤفقانهٔ مکلفیـــت هـــای اکادمیـــک مطـــابق پـــلان کـــار توســـط آمـــر دیپارتمنـــت و تائیـــد آن در مجلـــس دیپارتمنت.

۶- ارایـــهٔ گـــزارش فعالیـــت هـــای تدریسی و علمی در اخیر هـــر ســـال توسط استاد رهنما که در آغاز تقـــرر عضو کادر علمی تعیـــین مـــی‌گـــردد و تائیـــــد آن توســـــط مجلـــــس دیپارتمنت.

۷- ابراز نظر مثبت استاد رهنمـــای مندرج جزء ۲ این فقـــره در مـــورد پیشـــرفت کـــار بـــالای رســـالهٔ اصـــلی ترفیـــع علمـــی و محتـــوای آن و تائیـــد آن توســـط مجلـــس

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسطه د هغه تأیید.

۸- په بریالیتوب سره په یوه معتبرې نړیوالې ژبې کې د آزموینې تېرول.

۹- په هغو موضوعگانو کې چې د دیپارتمنټ د جلسې او د پوهنځی د علمي شوري له لوري تاکل شوې وي او د ژوري هیئت په واسطه مثبتې ارزول شوې وي د پوهنځي او د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر کې د دوو علمي کنفرانسونو وړاندې کول.

۱۰- په اکاډمیکي چارو کې فعاله ونډه اخیستنه او د اړونده دیپارتمنت، پوهنځي او د تحصیلي مؤسسې په کچه د اکاډمیکي خدمتونو وړاندې کول.

(۳) که چېرې د علمي کادر غړي د ماسټری یا د دوکتورا د تیزس له مخې چې له هېواد څخه په بهر کې یې په یوې معتبرې بین المللي ژبې لیکلې وي، د بهرنۍ ژبې د آزموینې په پروسه کې نه شاملېږي.

(۴) د مرستیال استاد لپاره لارښود استاد په ترتیب سره د پوهندوی،

دیپارتمنت.

۸- سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان در یکی از زبان های معتبر بین المللی.

۹- ارایهٔ دو کنفرانس علمی در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلات عالی در موضوعاتی‌که از طرف جلسهٔ دیپارتمنت و شورای علمی پوهنځی تعیین شده و توسط هیئت ژوری مثبت ارزیابی شده باشد.

۱۰- سهم گیری فعال در امور اکادمیک و عرضهٔ خدمات اکادمیک در سطح دیپارتمنت، پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلی مربوط.

(۳) هرگاه اعضای کادر علمی تیزس ماستری یا دکتورای خویش را، در خارج از کشور به یکی از زبان های معتبر بین‌المللی تحریر نموده باشد، شامل پروسهٔ امتحان زبان خارجی نمی‌گردند.

(۴) استاد رهنما برای معاون استاد به ترتیب از رتبهٔ پوهندوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنوال او د پوهاند له رتبې څخه ټاکل کېږي.

(۵) که چېرې پوهنیار د لیسانس تحصیلي درجې لرونکی وي، د هغه د ماسترۍ تیزس د اصلي اثر په توګه د نورو شرطونو د بشپړولو په صورت کې د پوهنمل علمي رتبې ته او که پوهنمل د ماسترۍ درجې لرونکی وي د هغه د دوکتورا تیزس د اصلي اثر په توګه د نورو شرطونو د بشپړولو په صورت کې د پوهندوی علمي رتبې ته د محاسبې وړ دي.

## د استاد د علمي رتبو ترفیع

### ۱۲- شپږڅلوېښتمه ماده:

(۱) پوهندوی د لاندې شرطونو د بشپړولو په صورت کې د پوهنوال علمي رتبې ته ترفیع کوي:

۱- د پوهندوی په علمي رتبه کې لږترلږه درې کاله بالفعل خدمت تر سره کول.

۲- د ترفیع له مودې څخه لږ ترلږه یو کال مخکې د علمي ترفیع لپاره د

پوهنوال و پوهاند تعیین می‌گردد.

(۵) هرگاه پوهنیار دارای درجهٔ تحصیلی لیسانس باشد، تیزس ماستری وی در صورت تکمیل سایر شرایط به حیث اثر اصلی به رتبهٔ علمی پوهنمل و اگر پوهنمل دارای درجهٔ ماستری باشد تیزس دکتورای وی در صورت تکمیل سایر شرایط به حیث اثر اصلی به رتبهٔ علمی پوهندوی قابل محاسبه می‌باشد.

## ترفیع رتب علمی استاد

### ۱۲- مادهٔ چهل و ششم:

(۱) پوهندوی در صورت اکمال شرایط ذیل به رتبهٔ علمی پوهنوال ترفیع می‌نماید:

۱- سپری نمودن حداقل سه سال خدمت بالفعل در رتبهٔ علمی پوهندوی.

۲- انتخاب موضوع برای ترفیع علمی حداقل یک سال قبل از موعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع انتخاب او د دیپارتمنت د مجلس او د پوهنځي د علمي شورې په واسطه د هغې تأیید.

۳- د دیپارتمنت په تشخیص، د پوهنځي د علمي شورې په تأیید او د اکاډمیکي چارو د سمون د ریاست د کتابونو د تألیف د دیتابیس په ثبت د هېواد د لوړو زده‌کړو د مؤسسو په کچه د دیپارتمنت د اړتیا وړ د یوه درسي کتاب تألیف، په هغه صورت کې د یوه علمي- څېړنیز اثر پرځای منل کېږي چې د درېوو تنو پوهاندانو او یا پوهنوالانو په واسطه تأیید او د خپرولو لپاره منل شوی وي.

۴- په هغو موضوعگانوکې چې د دیپارتمنټ د جلسې او د پوهنځي د علمي شورې له لوري ټاکل شوې وي او د ژوري هیئت په واسطه مثبتې ارزول شوې وي د پوهنځي او د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر کې د درېو علمي کنفرانسونو وړاندې کول.

۵- په کورنیو یا بهرنیو علمي خپرونو

ترفیع و تائید آن از طرف مجلس دیپارتمنت و شورای علمی پوهنځی.

۳- تألیف یک کتاب درسی مورد نیاز دیپارتمنت در سطح مؤسسهٔ تحصیلات عالی کشور به تشخیص دیپارتمنت، تائید شورای علمی پوهنځی و ثبت دیتابیس تألیف کتب ریاست انسجام امور اکادمیک، در صورتی به جای یک اثر علمی – تحقیقی پذیرفته می‌شود که توسط سه نفر پوهاند و یا پوهنوال تائید و برای نشر پذیرفته شده باشد.

۴- ارایهٔ سه کنفرانس علمی در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلات عالی در موضوعاتی که از طرف جلسهٔ دیپارتمنت و شورای علمی پوهنځی تعیین شده و توسط هیئت ژوری مثبت ارزیابی شده باشد.

۵- داشتن حداقل یازده اثر علمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د لېږ ترلږه یوولسو مطبوعو علمي آثارو لرل چې له دې جملې څخه اته آثار يې څېړنيز وي او دوه څېړنيز آثار يې د پوهندوی په علمي رتبه کې خپاره شوي وي.

۶- د يوې علمي – څېړنيزې رسالې ليکل چې د دريو تنو پوهاندانو يا پوهنوالانو په واسطه د تأييد وړ وګرځي، په ځانګه يا هغې ته په نږدې ځانګه کې د پوهاند يا پوهنوال د نه شتون په صورت کې، د هغه پوهندوی په واسطه چې په اړونده ځانګه کې د دوکتورا تحصيلي سند ولري، تأييد او هغې د اړونده پوهنځي او تحصيلي مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر کې دفاع وشي او د ژوري هيئت د تأييد وړ وګرځي.

۷- د ديپارتمنت د آمر په واسطه په لوست ورکولو کې د بريااليتوب او د علمي فعاليتونو د رپوټ وړاندې کول او د ديپارتمنت د غونډې په واسطه د هغه تأييد.

(۲) پوهنوال د لاندې شرطونو د

مطبوع در نشريه های علمی داخلی يا خارجی که از آن جمله هشت اثر آن تحقيقی باشد و دو اثر تحقيقی آن در رتبۀ علمی پوهندوی به نشر رسيده باشد.

۶- تحرير يک رسالۀ علمی- تحقيقی که از طرف سه نفر پوهاند يا پوهنوال مورد تائيد قرارگيرد، درصورت عدم موجوديت پوهاند يا پوهنوال در رشته يا رشته های نزديک به آن، از طرف پوهندوی که در رشتۀ مربوط سند تحصيلی دوکتورا داشته باشد، تائيد و از آن در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسۀ تحصيلی مربوط دفاع و مورد تائيد هيئت ژوری قرار گيرد.

۷- ارايه گزارش فعاليت های علمی و مؤفقيت در تدريس توسط آمر ديپارتمنت و تائيد آن از طرف جلسۀ ديپارتمنت.

(۲) پوهنوال در صورت اکمال شرايط

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشپړولو په صورت کې د پوهاند علمي رتبې ته ترفيع کوي:

۱- د پوهنوال په علمي رتبه کې د لږ ترلږه درې کاله بالفعل خدمت ترسره کول.

۲- د ترفيع له مودې څخه لږ ترلږه يوکال مخکې د اصلي اثر د موضوع انتخاب او د ديپارتمنت د مجلس او د پوهنځي د علمي شورى له خوا د هغې تأييد.

۳- د دوکتورا (PhD) د تحصيلي سند لرل.

۴- د يوې علمي- څېړنيزې رسالې ليکل چې د دريوتنو پوهاندانو په واسطه تأييد او د اړونده پوهنځي او د تحصيلي مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر د هغې دفاع وکړي او درې کسيزه ژوري هيئت د تأييد وړ وګرځي.

۵- د ديپارتمنت په تشخيص، د پوهنځي د علمي شورى په تأييد او د اکاډميکي چارو د سمون د رياست د کتابونو د تأليف د ديتابيس په ثبت د هېواد د لوړو زده کړو مؤسسې په کچه

ذيل به رتبهٔ علمی پوهاند ترفيع می‌نمايد:

۱- سپری نمودن حداقل سه سال خدمت بالفعل در رتبهٔ علمی پوهنوال.

۲- انتخاب موضوع اثر اصلی حداقل يک سال قبل از موعد ترفيع و تائيد آن از طرف مجلس ديپارتمنت و شورای علمی پوهنځی.

۳- داشتن سند تحصيلی دوکتورا (PhD).

۴- تحرير يک رسالهٔ علمی- تحقيقی که توسط سه نفر پوهاند تائيد شده و از آن در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصيلی مربوط دفاع نمايد و مورد تائيد هيئت ژوری سه نفری قرار گيرد.

۵- تأليف يک کتاب درسی مورد نياز ديپارتمنت در سطح مؤسسهٔ تحصيلات عالی کشور به تشخيص ديپارتمنت، تائيد شورای علمی پوهنځی و ثبت ديتابيس تأليف کتب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ديپارتمنت د اړتيا وړ د يوه درسي کتاب تأليف، په هغه صورت کې چې يوه علمي- څېړنيز اثر پر ځای منل کېږي چې د دريو تنو پوهاندانو او يا پوهنوالانو په واسطه تأييد او د خپرولو لپاره منل شوی وي.

٦- په هغو موضوعګانوکې چې د ديپارتمنټ د جلسې او د پوهنځی د علمي شورې له لورې ټاکل شوې وي او د ژورې هيئت په واسطه مثبتې ارزول شوې وي د پوهنځي او د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کادر د غړو په محضر کې د درېيو علمي کنفرانسونو وړاندې کول.

٧- په کورنيو او بهرنيو علمي خپرونو کې د لږ ترلږه شپاړلسو مطبوعو آثارو لرل چې له دې جملې څخه لس څېړنيز وي او څلور څېړنيز آثار يې د پوهنوال د علمي رتبې له ترلاسه کولو وروسته په کورنيو او بهرنيو علمي مجلو کې خپاره شوي وي.

(۳) د علمي کادر غړی د دغه قانون په پنځه څلوېښتمه ماده او ددغې مادې

رياست انسجام امور اکادميک، در صورتی به جای يک اثر علمی - تحقيقی پذيرفته می‌شود که توسط سه نفر پوهاند و يا پوهنوال تائيد و برای نشر پذيرفته شده باشد.

٦- ارايهٔ سه کنفرانس علمی در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصيلات عالی در موضوعاتی که از طرف جلسهٔ ديپارتمنت و شورای علمی پوهنځی تعيين شده و توسط هيئت ژوری مثبت ارزيابی شده باشد.

٧- داشتن حداقل شانزده اثر علمی مطبوع در نشريه های علمی داخلی و خارجی که از آن جمله ده اثر آن تحقيقی بوده و چهار اثر تحقيقی آن بعد از بدست آوردن رتبهٔ علمی پوهنوال در مجله های معتبر داخلی و خارجی به نشر رسيده باشد.

(۳) عضو کادرعلمی علاوه بر شرايط ترفيع رتبهٔ علمی مندرج مادهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۱ او۲) فقروکې د درج شوي علمي رتبې د ترفيع په شرطونو سربېره مکلف دی، په هره علمي رتبه کې لږ ترلږه يو اړوند علمي- څېړنيز اثــر پــه يــوه بين المللي معتبره خپرونه کې خپــور کړي.

(۴) د دغې مادې په (۳) فقره کې درج شوی علمي اثر د دوو کورنيو خپـــرو شوو آثارو معادل محاسبه کېږي.

(۵) د دغې مادې د (۲) فقــرې پــه ۳ جزء او په (۳ او۴) فقروکې درج شوي شرطونو د دغه تعديل او ايزاد د انفاذ له نېټې څخه يوکال وروســته د تطبيق وړ دي.

(٦) د پوهاند د علمي رتبې لرونکو د علمي کادر د غړو د کلنيو فعــاليتونو څارنه د علمي معاونيت په واسطه ترسره کېږي.

(۷) د تدريسي، څېړنيزو، تــأليف او ژباړې د فعاليتونو او د علمي کــادر د غړو د خدمتونو د عرضه کولو تر منځ د امتيازونو ډول، د جلا لايحې په واسطه تنظيمېږي.

چهل و پنجم این قانون و فقره هــای (۱ و۲) این ماده مکلف است، حداقل در هــر رتبــهٔ علمــی یــک اثــر علمی- تحقیقی مربوط را در یکی از نشریه های معتبر بین المللی به نشــر برساند.

(۴) اثر علمی نشرشدهٔ مندرج فقــرهٔ (۳) این ماده معادل دو اثر نشر شــدهٔ داخلی محاسبه می‌گردد.

(۵) شرایط منــدرج جــزء ۳ فقــرهٔ (۲) و فقــره هــای (۳ و ۴) ایــن ماده بعــد از یــک ســال از تــاریخ انفاذ این تعدیل و ایزاد قابــل تطبیــق می‌باشد.

(٦) نظارت از فعالیت هــای ســالانه اعضای کادر علمی دارای رتبهٔ علمی پوهاند از جانب معاونیت علمی صورت می‌گیرد.

(۷) نحوهٔ امتیازات بین فعالیت هــای تدریسی، تحقیقی، تألیف، ترجمــه و عرضهٔ خدمات اعضای کادر علمــی توســط لایحــهٔ جداگانــه تنظــیم، می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د علمي ترفيع منظوري**

**۱۳- نهه څلوېښتمه ماده:**

د استاد د مرستيال او د استاد د علمي رتبي تثبيت او ترفيع د دغه قانون د حکمونو له مخې د ديپارتمنت د مجلس د پوهنځي علمي شوري او د مؤسسې د علمي شوري له تصويب وروسته داړونده تحصيلي مؤسسې د رئيس په وړانديز او د لوړو زده کړو د وزير په منظورۍ ترسره کېږي.

**له اکاډميک بستونو څخه انفکاک**

**۱۴- يو پنځوسمه ماده:**

(۱) د علمي کادر غړي په لاندې حالاتوکې له اکاډميک بست څخه منفک کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د تحصيلي مؤسسې په واسطه د هېواد په د ننه يا بهر کې د ماسترۍ يا دوکتورا برنامې ته معرفي شوي وي، خو د نظر وړ د فراغت سند ترلاسه نه کړای شي.

۲- په هغه صورت کې چې استاد او د استاد مرستيال په شپږو کلونو کې لوړې

**منظوری ترفیع علمی**

**۱۳- مادهٔ چهل و نهم:**

ترفیع و تثبیت رتبهٔ علمی معاون استاد و استاد طبق احکام این قانون بعد از تصویب مجلس دیپارتمنت، شورای علمی پوهنځی، شورای علمی مؤسسه به پیشنهاد رئیس مؤسسهٔ تحصیلی مربوط و منظوری وزیر تحصیلات عالی صورت می‌گیرد.

**انفکاک از بست های اکادمیک**

**۱۴- مادهٔ پنجاه و یکم:**

(۱) عضوکادر علمی درحالات ذیل از بست اکادمیک منفک می‌گردد:

۱- در صورتی‌که از طرف مؤسسهٔ تحصیلی در برنامهٔ ماستری یا دوکتورا در داخل یا خارج از کشور معرفی گردیده باشد، ولی سند فراغت مورد نظر را کسب کرده نتواند.

۲- در صورتی‌که استاد و معاون استاد شرایط ترفیع به رتبهٔ علمی بالاتر را در

(c) ketabton.com: The Digital Library



علمي رتبې ته د ترفیع شرطونه بشپړ نه کړای شي.

۳- د دسپلین د نقض او په اړوندو تقنیني سندونوکې د نورو لیکل شویو سرغړونو په صورت کې.

۴- په هغه صورت کې چې ددې قانون د دري څلوېښتمې مادې په (۱) فقره کې درج شوي شرایط رعایت نکړي.

(۲) د دغې مادې د (۱) فقرې د ۲ جزء حکم د ملکي لوړو زده کړو د قانون د انفاذ له نېټې څخه د تطبیق وړ دی.

(۳) ددغې مادې د (۱) فقرې د ۳ جزء په حالت کې انفکاک د اړونده پوهنځي د شورې په وړاندیز، د تحصیلي مؤسسې د علمي شورې په تصویب او د لوړو زده کړو د وزیر په منظورۍ ترسره کېږي.

(۴) د علمي کادر هغه غړی چې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم پر بنسټ د لوړو زده کړو له یوې مؤسسې څخه منفک شي، نشي کولای

مدت شش سال تکمیل کرده نتواند.

۳- در صورت نقض دسپلین و سایر تخطی های مندرج اسناد تقنینی مربوط.

۴- در صورتی‌که شرایط مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ چهل و سوم این قانون را رعایت ننماید.

(۲) حکم جزء ۲ فقرهٔ (۱) این ماده از تاریخ انفاذ قانون تحصیلات عالی ملکی قابل تطبیق می‌باشد.

(۳) انفکاک در حالت جزء ۳ فقرهٔ (۱) این ماده به اساس پیشنهاد شورای علمی پوهنځی، تصویب شورای علمی مؤسسهٔ تحصیلی مربوط و منظوری وزیر تحصیلات عالی صورت می‌گیرد.

(۴) عضوکادر علمی که به اساس حکم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از یک مؤسسهٔ تحصیلات عالی منفک گردد، نمی تواند در مؤسسهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوړو زده کړو په بله دولتي مؤسسه کې مقرر شي.

**د پوهيالي علمي رتبې ترفيع**

**۱۵ – نهه شپېتمه ماده:**

(۱) د علمي کادر هغه غړي چې د دغه قانون له انفاذ مخکې د پوهيالي په توګه منل شوي دي، د پوهنيار علمي رتبې ته د هغوی د علمي رتبې ترفيع د دغه قانون د ۳۷ مادې به ۱ جزء کې د ليکل شوي ماستری د تحصيلي سند په ترلاسه کولو سره ترسره کېږي.

(۲) که چېرې د پوهيالي علمي کادر غړي د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی تحصيلي سند ترلاسه کړی نه وي. د ماستری دتحصيلي سند ترلاسه کولو تر وخته پورې د لاندې شرطونو په پام کې نيولو سره يوازې د پوهنيار علمي رتبې ته ترفيع کولای شي:

۱– د پوهيالي په علمي رتبه کې د لږ ترلږه درې کاله د بالفعل خدمت ترسره کول.

۲– د لارښود استاد په واسطه د هر

تحصيلات عالی دولتی ديگر مقرر شود.

**ترفيع رتبۀ علمی پوهيالی**

**۱۵ – مادۀ شصت و نهم:**

(۱) آنعده اعضای کادر علمی که قبل از انفاذ اين قانون به حيث پوهيالی پذيرفته شده اند، ترفيع رتبۀ علمی آنها به رتبۀ علمی پوهنيار با کسب سند تحصيلی ماستری مندرج جزء ۱ مادۀ سی و هفتم اين قانون صورت می‌گيرد.

(۲) هرگاه عضو کادر علمی پوهيالی مندرج فقرۀ (۱) اين ماده سند تحصيلی ماستری را کسب ننموده باشد. الی کسب سند تحصيلی ماستری تنها به رتبۀ علمی پوهنيار با نظرداشت شرايط ذيل ترفيع نموده می تواند:

۱– سپری نمودن حداقل سه سال خدمت بالفعل در رتبۀ علمی پوهيالی.

۲– ارايۀ گزارش فعاليت های

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال په پای کې د علمي فعالیتونو د رپوټ وړاندې کول او د اړونده دیپارتمنت د مجلس په واسطه د هغه تأیید.

۳- د هغو اکادمیکو دندو او مکلفیتونو د بریالي ترسره کولو له څرنګوالي څخه د دیپارتمنت د آمر په واسطه رپوټ چې له کاري پلان سره سم هغه ته د دیپارتمنت له لوري سپارل شوي او د دیپارتمنت د مجلس په واسطه د هغو تائید.

۴- په بریالیتوب سره د هغو دندو ترسره کول چې د دیپارتمنت له خوا ورته سپارل شوي وي.

۵- د دیپارتمنت په وړاندیز او د پوهنځي د علمي شورې په تأیید، د یوې علمي - څېړنیزې رسالې لیکل یا ژباړه او د ترفیع له مودې څخه یوکال مخکې د لارښود استاد ټاکنه.

٦- په هغو موضوعګانو کې چې د دیپارتمنټ د جلسې او د پوهنځی د علمي شورې له لوري ټاکل شوې وي او د ژوري هیئت په واسطه مثبتې

علمی در اخیر هر سال توسط استاد رهنما و تائید آن توسط مجلس دیپارتمنت مربوط.

۳- گزارش توسط آمر دیپارتمنت از چگونگی انجام مؤفقانهٔ وظایف و مکلفیت های اکادمیک که از جانب دیپارتمنت مطابق پلان کاری به وی سپرده شده و تأیید آن توسط مجلس دیپارتمنت.

۴- انجام مؤفقانهٔ وظایفی‌که از جانب دیپارتمنت به وی سپرده شده باشد.

۵- تحریر یا ترجمه یک رسالهٔ علمی - تحقیقی و تعیین استاد رهنما حداقل یک سال قبل از موعد ترفیع به پیشنهاد دیپارتمنت و تائید شورای علمی پوهنځی.

٦- ارایهٔ یک کنفرانس علمی در محضر اعضای کادر علمی پوهنځی و مؤسسهٔ تحصیلات عالی در موضوعاتی‌که از طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزول شوې وي د پوهنځي او د لوړو زده کړو د مؤسسې د علمي کـادر د غړو په محضرکې د یوه علمي کنفرانس وړاندې کول.

۷- په یوه معتبره نړیواله ژبه کې پـه بریالیتوب سره د آزموینې تېرول.

(۳) د پوهیالي د علمي رتبې د لرونکو علمي کادر هغه غړي چې د دغې مادې په (۲) فقره کې درج شوي شـرطونه بشپړ نه کړي د پوهنیار د علمي رتبې د پنځه اویا سلنې، معاش مستحق دي.

دوه یمه ماده:

د ملکي لوړو زده کړو د قانون په نهمه ماده کې (۳) فقره دې په لاندې مـتن ایزاد شي:

(۳) د بهرنیو دولتونو د لوړو زده کړو له مؤسسو سره د دولتي لوړو زده کړو د مؤسسو په تأسیس او فعالیت پـورې اړوندې چارې له جلا تقنیني سند سره سم تنظیمېږي.

دریيمه ماده:

د غه تعدیل او ایزاد د توشېح له نېټـې

جلسـهٔ دیپارتمنـت و شـورای علمـی پـوهنځی تعیـین شـده و توسط هیئت ژوری مثبت ارزیابی شده باشد.

۷- سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان در یکی از زبان های معتبر بین المللی.

(۳) آنعده اعضای کادر علمی دارای رتبهٔ علمـی پوهیـالی کـه شـرایط مندرج فقرهٔ (۲) این ماده را تکمیـل ننمایند، مستحق هفتاد و پنج فیصـد معاش رتبهٔ علمی پوهنیار می‌باشند.

مادهٔ دوم:

فقـرهٔ (۳) در مـادهٔ نهـم قـانون تحصیلات عالی ملکی به متن ذیل ایزاد گردد:

(۳) امور مربوط به تأسیس و فعالیـت مؤسسات تحصیلات عالی دولتی بـا مؤسسات تحصیلات عالی دول خارجی طبق سند تقنینـی جداگانـه تنظـیم می‌گردد.

مادهٔ سوم:

این تعدیل و ایزاد از تـاریخ توشـیح

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه نافذ دی او په رسمي جریده کې دې خپاره شي او د هغه په نافذېدو سره د ۱۳۹٦ کال په (۱۲٦۵) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ملکي لــوړو زده‌کړو د قانون د دوولسمې مادې د ۳ او ۵ اجزاوو تعــدیل او ایــزاد، د شــپږ دېرشــمې مــادې (۳) فقــره، اووه دېرشمه ماده او د شپږڅلوېښتمې مادې (۳، ۴، ۵، ٦ او ۷) فقرې او د نهه شپېتمې مادې (۲) فقره لغو کېږي.

نافذ و درجریدهٔ رسمی نشر گردد و با انفــاذ آن تعــدیل و ایــزاد اجــزای ۳ و ۵ مادهٔ دوازدهــم، فقــرهٔ (۳) مادهٔ سی و ششم، مادهٔ سی و هفــتم، فقـــره هـــای (۳، ۴، ۵، ٦، و ۷) مادهٔ چهــل و ششــم و فقــرهٔ (۲) مادهٔ شصت و نهم قانون تحصــیلات عالی ملکی منتشرهٔ جریــدهٔ رســمی شماره (۱۲٦۵) سال ۱۳۹٦ ملغــی می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشتراک سالانه:

**در مرکـــــز و ولایـــــات :          (۹۰۰) افغـــــانی**

**بـــرای مـــامورین دولـــت: بـــا ۲۵ فیصـــد تخفیـــف**

**برای متعلمین و محصلین با ارائه تصـــدیق، نصـــف قیمـــت**

**برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد**

**خـــارج از کشـــور:          (۲۰۰) دالـــر امریکـــائی**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

## Extraordinary Issue

- **Access to Information Law**
- **Amendment and Addition to Some Articles of Civil Higher Education Law**

**Date: 31st *MARCH.* 2018**
**ISSUE NO :(1297)**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**